# شاعر او سوله

**هو زه شاعریم :**

**دهغه ما شوم په موسکا مین شاعر چې دمور په تې یې لـه موسکا ډکـه خولـه ایښې اود هغې خوږ او مهر بانه نظر یې تخنوي .**

**زما دشعر رنګینه دنیا په مینه او محبت و دانه ده ، زه دجهان په ودانۍ او په کې په درنګا رنګ ګلونو په خندا مین یم دانسان خوښي او خوشحالي ، نیکمرغي ، هو ساینه او سو کـالي زمـا دشـعر مضمون دی . زه دهغه چا مقام په خپلو سند روکې ډیر او چت ستایم څوك چې دانسان له سره شراوافت ، کړ او او مصیبت کموی او دایې هیڅکله په چا نه لور یږي چې جهان جوړوونکي او بېوزلي نیکمر غه کوونکي مـا غزه یې دجنګ او جګړې په سوز وونکو لمبو کې په ایرو بدل شي .**

**څو مره چې جهان ښکلی او ښایسته وي ، څو مره چې دانسـان جهـان جـوړوونکي متـې دخپلـې نـړۍ دښکلا اود خپل ورور په نیکمرغه کوونکي کار بوختي وي څو مـره بـه زمـا شـعر ښایسـته او لـه رنګنیـو څخـه ډك وي ، څو مره چې دنړۍ په مخ سوله، امنیت او کراري خپله هوسا کوونکې اوله سو کـالی ډکـه لمنـه خپـره کړې وي ، هومره به زما دشعر رنګینـه نـړۍ مسته وي اود هر بیت بیلـې بیلـې کلمـې بـه د مصیبت ځپلیو خولې له داسې خندا څخه ډکوي چې ازانګې به بې دلمر په نوراني ښار کې خوښي او خوشحالي خپروي .**

**نو ځکه له عدالت خوښوونکې او سوله دوستې نړۍ څخه د خپل شعر په خوږ وجملو کې غوښتنه کوم چې دبشریت ځوروونکي جنګ او دنړۍ تبـاه کـوونکې جګړې دتورو لـو خـړو پلـوی . تـورد یـو ګونـډ ه کـړي او پرې نږدي چې دنړۍ دورانو لو او دما شومانو په شوندو د ملیح تبسم دو چولـو پـه خـاطر لیونی خوبونـه ووینـي پریږدئ چې تـل سوله وي او دور ورولـی او صمیمت ، مینـي او محبت نـه پـه ډکـه فضـا کـې دلمـر خوشحا لوونکي وړانګې دنړۍ پر مخ وځلیږ ي .**

**پریږ دئ چې انسان دخپلې نیکمرغۍ لپاره دانسان دهو ساینې او سو کالۍ له پاره خپله نړۍ نوره هم ښکلې او ښایسته کړي او زما دشعر عندلیب په کې دسولې او دوستۍ سندره دستو رورو ښـانـي نـړۍ تـه ورسـوي ي .**

**یاد د ښت**

ادب له معنوي اړخه یوې ټولنې ته ښکلا او ځلاور بخښي او ارزښت یې په دې کې دی چې یوازې او یوازې د سمون ، اصلاح، ویښتیا او بیداری ، هڅوني ، ورور ګلو ی، مینې او محبت او په ټوله کې په یوه واقعي هنداره کې د ژوند دبیلا بیلو اړ خونو دانعکاسو لو په توګه ګارول شوی دی ، او هغه څه ته ګوت نیونه کوي، کوم چې د معاشرې دپر مختګ، هو سا ینې او مصئو نیت او د وروسته پاتې والي څخه دژغورنې وسیله ګرځي چې ددغې ارزښتنا کې پا نګې بډایه برخه شعر دی .

شعر د نورو هنرونو تر ځنګ هغه هنر دی چې شا عران خپله مینه ، فکر، خیال او احساس ، خپل ملي او انساني پیغام دشعر په ژبه خپلو خلکو او ټولنی ته رسوي .
شا عران دټولنو انځور ګران دي . ځکه چې په خپلو شعري انځور ګریو کې د ټولی او سرحد پرته د خپل سالم و جدان دقضاوت پر بنسټ په ادبي ژبه دبشري ټولنې حالات ، پیښې اود خلکو د بیداری او پو هولو بیلا بیل اړخونه بیا نوي او د ټولنې د وګړو تر منځ د نفرت ، کینې ، حسد، بدبینیو ، تر بګنیو، تاو تر یخوالی اورنګ رنګ بیلتون او تو پیر دیوالونه نړوی اود واقعي انسانی ژوند لارې چارې ورته په ګوته کوي . دا ځکه چې شا عر د طبیعت ښکلا او واقعیتونه په ډیر ښکلي انداز او ظرافت په ښا یسته شا عرانه الفا ظو کې چو کاټ بندي کوي اود ټولنې وګړوته یې دقضاوت لپاره مخ ته ږدی . همدارنګه شا عر د احسا سا تو او جذ با تو تر جمان وي، جذ بات په بدن کې ګرمی او تا ورا پیدا کوي ، حرکت راولي او احساس خو بیا د ژوند نبښه وي چې دآدب یو مخکښ شخصیت او ادب د اوږدې لارې لاروی چې د ځوانی نه یې تر بوډا توب پورې مزلونه ووهل او ستړی نه شو .
استاد قتیل خوږیانی دی چې زموږ د هیواد دادبیا تو د تاریخ په فرهنګي او عرفانی چارو کې یې نه هیریدونکي خد متو نه کړی دي . او تل یې خپلې لیکوالی او شعر په وسیله د پښتو ادب پا نګه بډایې کړی ده .
د استاد ګڼ شمیر علمي او ادبي آثار چاپ شوي او ټولنې ته وړاندې شوي دي ددغه چاپ شوو آثار و په تړاو دادې داستاد یو بل اثر یوه شعري ټو لګه چې د (سولې پیغا مونه) نو میږي تر سر لیک لاندې چې تر ډیره بریده یې مطالب وطندوستی ، آزادی سولی او لړنورو برخو ته ځا نګړی شوی دی دیو ارزښتناکی ټولګی په توګه د ادب مینه والو ته وړاندی کیږی .
دسرحدونو ، قومونو او قبا یلو چارو وزارت د پیاوړي او سپیڅلی شا عر قتیل خوږیاني شا عري او دقلم سپیڅلتیا ، لوړ همت ، دادبي او عر فاني خدمتونو هڅا ند ژوند ستایي او در ناوی یې کوی.
استاد قتیل خوږیانی ته چې تل یې د هیواد رسنی په خپلو ادبي ، نظمي او نثری لیکنو ډکې کړې دي . دروغتیا او سلا متیا تر څنګ داوږد او نیکمر غیو ډك ژوند هیله من او غوښتونکی یم . پر یږدئ چې د استادد ( سو لی پیغا مونه) تر سر لیک لاند ې اثر چې دسولی اوورور ولی داحساس ډیر ښه اوپه زړه پورې مطالب پکې نغښتي دي ، د پښتو د ادب د بڼ ښکلا لا تازه او ددغه بڼ دمینه والو ادبي تنده ماته کړي .

1391 کال د لړم میاشت

په درنښت

عبدالمالك " صدیقی "

دسر حدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت سیاسی معین او سر پرست

## تقر يظ

زه له ډېر پخوانه د محترم استاد قتيل له نامه سره آشنا او بلد يم ، چې شاغلي استاد پيا وړی ليکوال او ښه شا عردی، په شا عرئ کې اوږده سابقه لري ، ډېر اشعاريي د هيواد په مجلو، جريدو او ورځپا نو کې خپاره شوی دی .

د استاد (( دسولې پيغا مونه)) په نامه اثر مې له سره تر پايه وکوت، دغه اثر په يوه داسې سريزه پيل شوی چې دټول کتاب د اشعارو غايه او هدف پکې پوره روښانه شوی او تقريبا د شپږ. شپېتو (66) سر ليکو نو لاندې ډول ډول اشعار پکې شته ، چې د هر سر ليك شعر ځانګړې منځپا نګه او په زړه پورې پيغام لري او هر پيغام يې زموږ مظلو مو خلکو دزړه غو ښتنه ده .

په کتاب کې دوطن سره مينه، دآزادئ سره مينه ، دسولې سره مينه ، دبې وزلو له نېکمر غئ سره مينه، دوحدت او يووالي سره مينه او نور په زړه پورې مضامين په ساده او روانو الفاظو ځای شوي دي .

سره ددې چې زه شا عر نه يم ، خو دشعر، شا عرئ او شا عر په قدر او اهميت پو هيږم، خو په کوم شعر ؟:

هغه شعر چې د ژوند لپاره وي او دوخت د مقتضی او غو ښتنې سره سم ويل شوی وي .

شا عر يعنې کوم شا عر ؟ : هغه شا عر چې :

(( طوفاني در ياب ګڼي د مظلوم او ښکې            ددنيا بحر ډنډو کی ورته ښکاري

چې خپل نفس نشي وژلی که سل وژني            ډېر ضعيف او وير ندوکی ور ته ښکاري

ددنيا واړه عيشو نه نعمتو نه            دسپي مخکې پروت هډو کی ورته ښکاري))

که شعر نسبي ، مطلق او نسبي مطلق وګڼو ، نو و يلای شوی چې :

نسبي شعر هغه دی چې دوخت او مکان د تقا ضا سره سم ويل شوی وي ، خو کله چې هغه وخت تېر شي ، نو شعر هم ورو ورو له پا مه غور ځيږي ، دغسې شعر ته معا صر شعر هم وايي.

مطلق شعر هغه دی چې تلپاتې او هر وخت دلوستلو وړوي چې داډول شعر د کلا سيکو اشعارو په ډله کې حسا بيږي.

نسبي مطلق شعر هغه دی چې پورتني دواړه تعر يفو نه پکې د تطبيق وړوي يعنې چې هم تلپاتې وي او هم دخپل وخت پيغام پکې شتون ولري ، چې معا صر کلاسيك شعريې هم بولي .

داستاد دغه شعري جونګ په معاصرو کلاسیکو شعرونو کې راغې ، څکه سوله، وطن ، آزادي او نور په هر وخت او زمان کې دانسان دژوندانه د بهبود او پر مختګ لپاره ضروري او حتمي پدیدې ګڼل کیږي .

شعر هدف نه دی ، هدف ته در سېدو وسیله ده ، نو داستاد شعرونه هم دسولې او نورو انساني ښېګڼو درامنځته کېدو لپاره دیوې ښې وسیلې حیثیت لري اود سولې د غوښتلو لپاره ښه لاره ده .

زه په پای کې سر بېره پردې چې د محترم استاد قتیل خوږ یانې تېرې ادبي او فرهنګی چارې ستایم ، دژوند او برېدوالی ورته غواړم او ددې کتاب چا پول دپښتو ادب لپاره یوه ګټوره او په زړه پورې زیا تونه بولم .

په در ناوي

خیرنپوه عبدالواجد واجد

دژبو او ادبیاتو علمی مرکز رئیس

# الهي !

داپه اور سوسټي وطن زما دی

له جنګو نو قرباني وطن زما دی

داچې وینې یې بهیږي له ټپونو

داپه زړه باندې ټپي وطن زما دی

خوږ زړګې یې چې کابل دمینې کورؤ

له ښکل اځنې خالي وطن زما دی

دشملو ځو انیمرګي پروني ژاړي

جوړ دسرو وینو لښتي وطن زما دی

څو به پت دغیرت سرته کړي ویرونه

داپه کوم تور تو متي وطن زما دی

زیاتي سوله کې خوندي موور ورولي کړه

په دې هیله الهي وطن زما دی

چې دمینې غیږې خلاصې شي یو بل ته

په امید دهر کلي وطن زما دی

دوحدت مینه مو بیا زړه کې پیدا کړه

ټول خوړلی زور زیاتي وطن زما دی

((دقتیل)) دسوی زړه امید قبول کړه

چې دسولې ارماني وطن زما دی

# شملې شملې وطنه

وطنه په غیرت او په ایمان به دې ساتم

له هسکو ځنې هسك خپلواك نښان به دې ساتم

شملې شملې وطنه خپلواك کوردګر بتا نو

په توره مېړنی داکبر خان به دې ساتم

شملې دې کوزې مه شه دپتمن پروني شانه

پګړۍ مې دبابا یې په (امان) به دې ساتم

میوند کې دې ژوندۍ دملالی نره ټپه ده

غور ځنګ دایوب خان ستر قهرمان به دې ساتم

ټا ټوبې دافغان دی آریانا که خراسان دی

نوځکه همیشه افغانستان به دې ساتم

وحدت دمیړنیودبلو سګرو ملا کړه ماته

وطنه مېړنیه یو افغان به دې ساتم

ته راز دژو ندانه دمېړنیو افغانانو

ته مینه یې الفت یې په ښه شان به دې ساتم

میراث مې د بابا یې تل ازادا وسې وطنه

((قتیل)) دې یم هیواده لوړا سمان به دې ساتم

## سیلۍ

دګل په زړه کې

دژوند ون هیلې راو نڅیدې

اود ژوند ون ننداري ته یې کړکۍ خلاصه کړه

لایې کتلی نه ؤ

لایې لید لې نه ؤ

چې له حرصونو ځار شو

دارماني ژوندانه

دجناز ې په پښو کې

سیلۍ یې ځانه سره یوړې پاڼې

کابل

1369/3/14

## ناورین

داد کوم حرص لیو نتوب دی

دا تنکي تنکي ګلونه

داد هیلوډ ګې ځا نګې

چې رژیږي

او ما تیږي

دادکوم حرص لیو نتوب دی

له سپین غر ډګې شملې مو

**چې ول ول دمرگ په غاړه**

**دفنا پښو ته**

**کوز پړي**

**دادکوم حرص ليونتوب دی**

**چې دهيلو پر يښتي مو**

**دي پر تې مړاوې ځانگونه**

**تاندې مينې**

**په اور سوزي**

**دادکوم حرص ليو نتوب دی**

**له شيدونه ډك تيونه**

**دماشوم دشونډ وگل کې**

**دغضب**

**په ناورين سوزي**

**دادکوم حرص ليو نتوب دی**

**دادکوم حرص ليونتوب دی**

**کابل 1368/8/7**

## وير جنې شيبې

**دزلما دبڼ گلونه**

**دبلوغ په سروشيبو کې**

**دراتلو نکې سبا هيلې**

**دآرمان په لور روان زړه**

**دبېوزلې مور په غېږ کې**

**دناروغ ماشوم در مل ته**

**دډاکتر نسخه په لاس کې**

**بوډا پلار په اند يښنمن زړه**

**ددوا په تکل سردی**

درملتون له پښوا وباسي

له يوه ځنې راوځې

او په بل شي وردننه

له ستړ يا پس يې پيدا کړل

ددرملو څو قلمه

دروغتون په لور په منډو

تلو چې زوی له مرگه خلاص کړي

چې دگړزاو ډم اواز کې

سره لمبه پرې را غوټه شوه

پښه پښه پر يو تو په گلو

دشيطان حرص قرباني شول

کابل 1368/9/6

## ژوند ی اوسې وطنه

دزړه هره کتره مې ستا له خا ورې نه قربان ده

وطنه داستا مينه غوره برخه دايمان ده

ته پت ته مې عزت يې ته مې شان ته مې شمله يې

بچوته توده غيږ ه ددښمن په سر حمله يې

دفاع دې زما ژونده فريضه دهر افغان ده

وطنه داستا مينه غوره برخه دايمان ده

غيرت دې په هوا او په نعمت باندې ژوندون دی

همت دنو ميااليو ستا په پت باندې ژوندون دی

وزرته دگور بتو دې فضا شوکت او شان ده

وطنه داستا مينه غوره برخه دايمان ده

ژوندی اوسې وطنه ستا شمله دې وي او چته

کابل به دې دزړه په شان پر ينوزي له هيبته

همدغه فيصله دمير نيو په جهان ده

وطنه داستا مينه غوره برخه دايمان ده

**کابل به دې ژوندی وې څو چې زړه وهي ټوپوته**

**زانګو دمیړ نیو ده کړي ویاړ پرې غورزنګونه**

**نامه دې خوږ وطنه ترانه دزوړاو ځوان ده**

**وطنه داستا مینه غوره برخه دایمان ده**

**دسیمې هره برخه دې پرونی دپښتو دی**

**خپلواك را پاتی شوی داټا ټوبی له پلر ودی**

**داخاوره مې ((قتیله)) هم غزله هم داستان ده**

**وطنه داستا مینه غوره برخه دایمان ده**

**کابل**

**1369/7/18**

# دآزادۍ ناوې

**داستبداد د تورې شپې په زړه کې**
**دلمر د تورې شان خندو نه څیرو**
**در ومو پر مخ ځو**
**دوحشت سره دغرې وهو**
**دسبا وون ددر خولار څارو**
**دا تور کارغان چې توره شپه خپروي**
**ددوی په سر**
**دنور دغشو ګوزارونه کوو**
**چې دا لړلي کړ غيړنې څيرې**
**زمونږ ديون لارکې خندونه نه شي**
**دغیر تو نو دوحدت قافله مخ په وړاندې**
**دچا له ویرې پر ته ګام پورته کړې**
**دتورې شپې بګوې**
**خپلو سمڅو لره کډه وکړي**
**دآزادۍ ناوې خپاره څانګونه**
**لکه دلمر**
**لکه دلور**
**لکه سبا په شا نتې**
**په ټول وطن باندې کړي وړانګې خپرې**
**چې مود کلي هوسی**
**چې مود يرې دشملو**
**چې مو حجرې دپلرو**
**او دوچو بې په تر خو څيرو مړاوې ګلان**
**دورورو لې فضا کې**
**په سپیرو وچو او چا ودلو شو نډو**

دډاډ موسکا خپره شي

**کابل**
**1369/5/31**

# دآزادۍ سمبول

**زه سمبول دازادۍ يم**
**دهيواد د عظمت نښه**
**دزلميو غير تونو**
**له غيرت ډکوسرونو**
**دختيځ تاريخ له پاره**
**زه شمله يم دميرانې**
**د((امان)) دغيرت توره**
**د((غازي ادې)) پرونی**
**دعصمت او پت ساتونکی**
**زه سمبول دآزادۍ يم**
**دپتمنو دسرونو**
**دسروو ينو سيلا بونو**
**زما ختِه جوړه کړې**
**دننګونو**
**دميرانې**
**دغيرت او همت درس ده**
**دغاز يانو شهيد انو**
**دغيرت ژوندی تاريخ يم**
**ماساتلی دي وياړونه**
**له همته ډك نومونه**
**ما وياړلي دي ميړونه**
**زه سمبول دآزادۍ يم**
**دننګيال غيرت دتورې**
**سر ښند نې**
**ستر محصول يم**
**دبريا سپيڅلی ځان کې**
**هسك ولاړ ليدلی نه شو**
**هره خبښته يې ميرانه**
**ذره خاوره دو جود مې**
**ددښمن دسترګو خاردي**
**دژوندي وياړ دښمنانو**
**زما تن سورې سورې کړ**
**رانه غوځ يې کړل ځانګونه**

**خو ما څوك وژلی نه شي**
**زه به هسك مدام ولاړيم**
**په خپلواك افغانستان كې**
**زه سمبول دآزادۍ يم**
**زه سمبول دآزادۍ يم**
**كابل 1369/5/23**

## دو سپنو ږلۍ

**داما ينو نه چا كرلي**
**چې ريښې دژوند ون ريبي**
**دادكوم هوس تسكين دی**
**چې وروري پيوستون ريبي**
**دسرو وسپنو ږلۍ ده**
**دژوندون په سرورېږي**
**دسر ووينو سيلا بونه**
**تا ندو هيلو نه بهيږي**
**دادكوم جنون طغيان دی**
**چې دمينې مضمون ريبي**
**دلته مينه وه وروري وه**
**غيږۍ خلاصې وې يو بل ته**
**دزړه كورله پيرزو ډك ؤ**
**يوته نه چې يو په سل ته**
**داد وينې دښمن څوك دی**
**چې پيمان او تړون ريبي**
**دميرويس نيكه بچيانو**
**ملك دبل په لمسون وران شو**
**سكنی زوی دابۍ مو**
**ستر دښمن دورور دځان شو**
**څوك ټوټې ټوټې ماينوكړ**
**څوك دورور په شبحون ريبي**
**كه ژوندون په دغه شان وي**
**له دې ژونده به څه جوړشي**
**چې دمور خوږ و بچوړو**
**له يو بل ځنې زړه موړ شو**
**ډير افسوس په داسې ژوند شه**
**چې وطن كې سمون ريبي**
**راځئ زړونه كرونده كړو**
**په كې تخم مينه نال كړو**
**ملاوې وتړو ((قتيله))**
**را او چت پر يوتی حال كړو**
**دهغو جرړې تباه كړو**
**چې دا بوټي زرغون ريبي**

**کابل**
1369/1/25

# دغرو نو شملې

**دوینو  په ذروکې یې داستا مینه پر ته ده**

**وطنه په پښتو کې مې داستا مینه پرته ده**

**درې دې خاطرې دي انګازې دغیر تونو**

**دعرونو په شملو کې مې داستا مینه پرته ده**

**تاریخ دې دمیر اني شمله هسکه ده ساتلي**

**دپیغلولو پټو کي مې داستا مینه پرته ده**

**نښتر نښتر قدونه سنګر ونه دمیراني**

**رپاندو سرو جنډوکې مې داستا مینه پرته ده**

**پرګي دې دڅېړیو ددښمن سرته ګولۍ دي**

**تور ځنو میر ونوکي مې داستا مینه پرته ده**

**له سره ځنی تیر شه دناوړه نظر ستر ګې**

**په مستو سردرو کې مې داستا مینه پرته ده**

**ته مینه یې وطنه ته ایمان یې ته مې ژوندیې**

**غور ځنګ او په سلګو کې مې داستا مینه پرته ده**

**شعرونه مې داستا له شمله ورونه قربان شه**

**غزل او ترا نوکي مې داستا مینه پرته ده**

**((قتیل)) دې یم وطنه تا ببښلی راته ساه ده**

**دزړونو په ټوټو کې مې داستا مینه پرته ده**

کابل

1368/1/16

# آرماني رازو نه

**دا او رونه چا بل کړي**
**چې دهیلو کورګی سوزي**
**وطن څه چې زړونه یې وریت کړل**
**دار زو تنکي رازونه**
**آرماني رازونه سوزي**
**ودان کور شو لوټي لوټي**
**هستي ټوله په کې لاړه**
**دااورونه چا بل کړي**
**ګلکځو نه یې تالا کړل**
**هغه ګل چې ما ساتلی ؤ په مینه**
**دالفت په خوږ وڅاڅکو**
**ماهر وخت خړو بولو**
**پاڼې پاڼې مړاوې بڼه**
**په زلمي قبر ور خپور شو**
**دااورونه چا بل کړي**
**چې لمبې یې نه مړ یږې**
**په زلمیوګلا لیو**
**په مینو ارزوګانو**
**په آرمان دار ما نجو**
**په غرور سره تاویږي**
**ټول وطن یې لو لپه کړ**
**دااورونه چا بل کړي**
**دقاتل غوږ ونه خلاص کړه**
**دالمبی او دا اورونه**
**به له زوره ځنې پریوزي**
**دوحشت په سره بټۍ کې**
**خو ټیدلې دزړه وینې**
**دوطن دلیلا خپور او جړ اوربل ته**
**به د مینې سره ګلان شي**
**به دمینی سره ګلان شي**

کابل
1368/8/15

# تو پان

**دګلو نو ریځ ندوی به**

**قتلو ي نورسې ځانګې**

**شنه سمسور سمسورباغونه**

**دژوند ځا ځکې ځاځکې مینه**

**درحمت په سره پرده کې**

**دخندا په هیله باندې**

**میا شتې شمارې شیبې شمیرې**

**جوړوې خوله غوربدوته**

**چې غدئ پرې راغوتیه شي**

**مینه وژني الفت وژني**

**آرمانجنو پر ښتو ته**

**تور زړوکې ور په سر کا**

**دسرووینو سوداګر به**

**دهمدې ((توپان)) خوراك شي**

کابل

1368/9/15

# هیو اده

**له غیر ته ډك هیواده**
**دخپلو اکوګو ربتا نو**
**اود هسکو شملو کوره**
**هسکه غاړه به ژوندئ وي**
**ستا شمله به وي او چته**
**اودلمر کورته به رسي**
**ستا لمنې نه ورك کیږي**
**له غیرته ډك هیواده**
**دځوا کمنو متو ځالې**
**ستا نبنتر نبنتر قدونه**
**ستا دټرو پا سوالې کا**
**هغه سترګې به ړندیږي**
**چې په بدودرته اوړي**

هغه زور به اوبه کیږي
چې په تا سوداګري کا
له غیرت نه ډك هیواده
شمله ور به په میرانه
ستا د هسکو عظمت ساتي
دپتمنو لو پټو ضد شیطانان به
دشملو په زوررسواشي
ستا به سر مدام او چت وي
دمیرانې عزت کوره
ته به تل وې
ته به تل وې

کا بل
1368/12/24

## دسو لې پسر لی

بیا سپرلو په ګلو
دوطن کلي باندې
دغرو لمنې د ښتي
اود پتمنو پیغلو
تور اور پلونه ښکلي
دمیر نیو پګړو
شملې ښایسته ښکار یږي
بیا دپسرلي په ګلو
شي هر کلی د مینې
دګل په غوږکې بلبل
سوي راز ونه سپیري
دګل ډنډ باندې نا ست
اظهار د مینې کوي
له تورو لړو لرې
په ترا نود سولې
دغوږ پا لنه کوي
راشه چې زړونه پاك کړو
له لیو نیو خیرو
او دبارو تو په ځای
سره ګلان ډالی کړو
دپسرلي د کاروان
دهر کلي له پاره
غیږې کړو خلاصې سره
دروغې تیږه کیږدو
سپرلی په سوله پیل کړو

**سپرلی په سوله پیل کړو**

کابل
1368/12/6

## دا شملې شملې وطن مو

**دا شملې شملې وطن مو**
**دزمرود بچو کور دی**
**دخپلواکو ګر پتا نو**
**دعزت او پت ټا ټو بی**
**څو مره هسك څو مره او چت دی**
**هره تېره یې هیبت دی**
**ددښنه په سر ګوزار یې تند رونه تو یا نونه**
**داشملې شملې وطن مو**
**د سوري دبرم نښنه**
**داپرونی د ((ملالې))**
**هره مورګه**
**هریو غر یې**
**د((ایوب)) دپګړۍ ول دی**
**د((میرویس)) نیکه هډونه**
**ددښنه په سر ګوزار یې تند رونه تو پانونه**
**داشملې شملې وطن مو**
**دانښترنښتر قدونه**
**داځو ا کمنې قوي متې**
**دغیرت له وینو ډك زړه**
**دپتمن ژوندون عزت ته**
**دوحدت دبچو توره**
**دامور چلې سنګرونه**
**ددښنه په سر ګوزار یې تندرونه تو پا نونه**
**داشملې شملې وطن مو**
**څو مره نازي څو مره و یاړي**
**پرګنې یې میرنۍ دي**
**هرز لمی یې ((اکبر خان)) دی**
**هره پیغله یې ملا له**
**دخپلواك ژوند پاسوالي کا**
**دبګو وقدمونه**
**او**
**ددوی ناولې هڅې**
**دلته ساه اخستی نه شي**

**دې ننګونو**
**دې بریا وو**
**دوطن داهسکه غاړه**
**چې وحشت ته ټیټه نه شوه**
**ورته نا څې آرمانونه**
**ددښنه په سر ګوزار یې تندرونه تو پانونه**
کابل : 24 /1368/11

# دوینو سودا ګر

**په سره اور پاندې سوز یږي**
**دوطن ښایسته ګلونه**
**تو دې وسپنې وریږي**
**دیژ وي ځوان آرمانونه**
**داته څه وایي چې څه دي**
**داژړدا فریاد ونه**
**دااورونه له کوم خوا دي**
**وچوي چې زړه کې هیلې**
**دانا ز کې تاندې لښتې**
**چې ماتیږي مړاوې کیږي**
**دمغرور انسان له لاسه**
**معصوم زړه معصومي هیلې**
**په سرو وسپنو ور یتیږي**
**داتی خوری ماشو مان مو**
**په مرګ کوم جرم محکوم کړل**
**دا معصومې پر ښتې مو**
**څه ګناه لري انسانه**
**چې سرو وینوکې شتیږي**
**داله هیلو نه ډك زړونه**
**له کوم غیظ نه قربا نیږی**
**دادکوم تجار متاع ده**
**دبارو تو شنې لو خړې**
**دعقد واور لمبور دی**
**دانسان په سر بلیږي**
**سره اورونه راوریږي**
**سړ یتوب په کې سوز یږي**
**تاسې واوری تاسې واورئ**
**دسروو وینو سودا ګرو**
**ددې وینو هر یو څا څکی**
**به میر انه شی غیرت شي**
**دقاتل په مغرور سر به**
**یو تو پان شي یو آفت شي**

کابل
1367/7/17

# دوطن هسکه شمله

دوطن هسکو غرو نو څو کې
دافغان د عظمت نښې
داتر شنه آسمان دلاندې
له جنت ښکلي باغونه
داد پر ی مو دپلرونو
دا حجرې دمېږ نیو
دامیراث د بابا گانو
دننګیا لو غیر تونو ، دننګونو د بچیا نو
له عزت ډکه ډالۍ ده
داکه خوست که ننگرهاردی
دافغان د غاړې هاردی
هر بلو سگر تر ینه قربان شه
هر غرور ترې صدقه شه
دافغان ژوند ون تړلی
دوطن په ژوندون پورې
دوطن هسکه شمله به
په همت او چته سا تو
دغه ځاله دګر بتو
په غیرت او چته ساتو
دننګیا لو غیرتونو د ننګونو دبچیانو
له عزت ډکه ډالۍ ده
دسپېڅلو ماشو مانو
په تنکیو شو نډ و باندې
تبسم په نڅا ساتو
درحمت د ملا یکو
توده غیږه مهربان زړه
چې څوریږی ، تپریږی
دوطن په بچو با ندې
دادلمر دکورپه لوري
داوچتو شملو یون به
دننگیا لو غیر تونو، دننگونو د بچیانو
له عزت ډکه ډالۍ ده

داله مینی ځنی ډك زړه
چې هر رگ کې يې له وينی سره يو ځای
مينه مينه په ټو پو ده
هر غور ځنگ يې دهمت دی
هريو خيز يې
هستوو نکی دي پتيال دی
دهمد غه مهربان كور
هره ستنه هره تيږه
په الفت باندې ولاړه
دانسان په غم څور يږې
دزړه سوی په وينو باندې
دده خټه اخښل شوې
دننگيا لو غير تونو د ننگونو د بچيانو
له عزت ډکه ډالی ده
دابه نه پر يږدوچې ړنگ شي
دخو نخور انسان له لاسه
کنډ واله شي ورنه جوړه
دبارو تو په بټی د کی
دلو ګيو ، دلو ځړو
دسرو او سپنو خوراك شي
مهر بانه پر ښته شي
با ندې بوره ، لو غړنه
نازولې ودر يږي
دمغرور ودر واز وته
داننگو نه ننگو ومو نږ
دا ډالی به ناز وو مونږ

کابل
1366/11/19

## زما تکل

زما تکل
بيا دسپيدو او د لمر ونو په لور
دتورو شپو
دتور تمو په تندي لاره و هي
زما تکل
دتنکو هيلو
دغو ټيود مو سکا په خاطر
دپسر لی د قدم لاره څاري
زما تکل
دارزو ګانو

دپتمنو نهيليو
تورو ګوروور يځو
دځير وونکي سباوون په هيله
دبر يتو رو شمله ورو متو ځواك ويښوي
زما تکل
دآرما نجنو دآرمان نړۍ کې
دبور وستر ګو
د تسل له پاره
دلمر دسيمې در وازې ټکوي
وي چې دهيلو زمو لل شوي ګلان
له خر وار ونو خاورو سر پورته کړي
ماتم خپلي زړه ونه وخند وي
ماتم خپلي زړه ونه وخند وي

کابل
1368/10/4

## مست غور ځنګ

پر ې چې وطن وخا ندي ګلونه شي
سره يې دسپيرودښتو مخو نه شي
بيا خزان خپلې غوټۍ و خاند ي
وينه دسپر لي په کې دو دونه شي
بيا دسولې زرکي کرکړي و کړي
مست د شمله وړو غور ځنګو نه شي
وسا تي شملې د خپلې مور تيکرى
بر يد يې هر دښمن ته تو پا نو نه شي
زيرى يې خپه زړونه خو شحا له کړي
پورته د خندا وو او ازونه شي
خو لو کې د کوتر و دبر ي زيرى
مست پر ې او چت غرونه پلن دښتو نه شي
زيرى د جهاد د ښکلا پيغلې شي
جوړ پرې دو ختو نو پر هارونه شي
مينه شي الفت شي ورورو لي شي بيا
شعر د مينه ناك نظر كيفونه شي
داسې پسر لى (( قتيله)) غواړ مه
زړونه دخو ړې مينې کورونه شي

کابل
1368/12/26

## د ځوانۍ ګلونه

زما د مينې ښکلې پا ڼې
چې دسبر لې ښکلا پرې ښه ښکاريده
په مرمر ينو ليچو
خوب ته يې سرنه ټيټا وه
دپښنتي عظمت نشه يې
پر ته ختّه کې وه
دغه غر ور يې دپيړۍ پير ونه مات نه شو کړاى
کړل صدقه يې له زلفا نو
دځوانۍ ګلونه
خو دغه تور ماران يې
هيڅکله دغاړې اميلو نه نه شول
چا يې دپا ښو رڅيدا
په شپه کې ونه ليده
په ځوا نيمرګې مينې
دچا خمارې خولې ستر ګې
باندې غمجنې نه شوې
خو د ځوانۍ ګلونو
دچا ناز کو پښو ته
پاسته فر شونه جوړ کړل

کابل
1367/5/20

## څا څکی

څاڅکی څا څکی
چې را څاڅی
درو مان د بڼ له منځه
دزاړ ه شراب  خمونه
دوختو نو ډمې نا څې
بې متری مې مين زړه ته
دپيغور مترو که ورکا
دتسل په تکل پر يوزي
مغرور سر
د ښکلا پښو ته

کابل

1368/7/30

## مخکښې به ځو

قدم به په اغزو او چتوو مخکښې به ځو
له ستو نزو ډکه لار به لنډوو مخکښې په ځو
له تورو شپو وتل په ځانځا نی کې محال ښکاري
لا سونه به یوبل ته ورکوو مخکښې به ځو
اغزونه ډکو دښتو کې مزل دقدم ویاړ دی
په ځای به یې ګلان زرغونوو مخکښې به ځو
باك نشته که ځوانی دسرو ګلانو مو خزان شي
ژوندون له بې‌وزلی نه خلاصوو مخکښې به ځو
شملو دلو پټو د پټ په لاره کې سرا یښی
سرونه به په پټ قربا نوو مخکښې به ځو
دنر میرني هوډه وطن پټ درځنی غواړي
غرور د جا برانو تاوو مخکښې به ځو
شملو ته چې سپك ګوری په ټیکر وسو داګري کا
غوږ ونه دو ختو نو ماتور مخکښې به ځو
په هوډ دشملو رو مې سوګند دی پورته کړی
(( قتیله)) خپل آرمان پوره کوو مخکښې به ځو

کابل
1368/3/12

## د ژوند لاره

پرې چې مرور وختو نه و خاندي
و خاندي دوخت ټپونه و خاندي
کړي چې دشپو کور دسولې ځل رڼا
بیا په کې ښایسته مخونه و خاندي
بیا دبورو میندو زړونه و خاندي
پرې چې دسوري ګوګل شهید زړونه
جوړه شي پټی زخمونه و خاندي
قبر کې شهید زلمی خوشحاله شي
مست شي د جنډ وسرو نه و خاندي
ګل دغزل زلفې د خو بانو شي
وخاندي ژوندی شعر ونه و خاندي
پورته شي له خاورو ځوانیمرګ زړونه
مړاوي د قبرو ګلونه و خاندي
جوړې شي دیرې حجرې تودې شي بیا
بیا یې در باب تارونه و خاندي
مینه احترام د ژوندون لاره شي
بیا د شاه زلمو بر یتونه و خاندي
پرې چې د ګلو نو امیلو نو کې
بیا د مستو زلفو ولونه و خاندي

پرې چې د ((قتيل)) شعر مستي وکړي
بيا په کې دوخت رازونه و خاندي

کابل
1367/9/8

## د ننګيا لو هوډ

دغه مينه مينه خاوره دا غزل غزل جهان مې
دغه وينه وينه زړه مې دغه تن مې دغه کان مې
داد ژوند شهيد ه هيله د بقا لار کې سر لوړې
داد بيټ نيکه سندره دا غور ځنګ دپهلوان مې
دظلمت توري لو خرې دي دتورې لمر ځير لي
دملالي پاك پړونی د ټوپو نو نر ميدان مې
داد نر مېړه سلګۍ مې چې خندا خندا کې لاړه
تر ينه ځار تر ينه لوګی شه داهستي مې دا روان مې
هلته پاس دزور کو پېرۍ کې د خالد بابا ګوزا ر دی
دغه هوډ دننګياليو دا غيرت مې دا ايمان مې
داغيرت غيرت وطن مې هره لو يشته يې همت دی
د(( قتيل)) دژوند ټا ټو بی له مېړاني ډك داستان مې

کابل
1371/8/23

## سوله

پر يږ ده چې انسان از اد ژوندون و کړي
ځا نته د وروری د نيا و دانه کړي
پر يږده چې ښايسته جهان تل ښکلی وي
سوله مو ژوندون ډك له خند انه کړي
پر يږ ده چې انسان ځانته جهان جوړ کړي
ځانته له جهانه ګلستان جوړ کړي
پر يږده چې بېوزلی انسان  وخاندي
سوله کې دژوند سرا و سامان جوړ کړي
مه ورانو ئ دا جهان په جنګ سره
دا جهان په سوله تل ودان ښه دی
ورکې دې لو خرې د جنګونو شي
دا جهان په سوله تل ودان ښه دی
ورکې دې لو خرې د جنګونو شي
سوله کې خوشحاله تل انسان ښه دی
داد انسان زوی د ژوندون حق لري

پرې چې يې په شو نډووي مو سکا خپره
مه وژ نه ظالمه انسان مه وژ نه
پرې چې ترا سمانه شي خندا خپره
کړي چې دبشر د نا بودۍ فکر
ورك شه له جهانه شر مشان واړه
سری چې يې منګولې د خوار وينې کړې
مړه دې وي نابود دې وي ليوان واړه
سوله کې دې دغه جهان ښاد اوسي
سوله کې دې دا جهان اباد اوسي
تل چې دنړۍ د تخريب فکر کړي
ژوند دشر مېنا نودې بر باد اوسي
تل دې محترم وی دانسان مقام
هسك دې وې دسولې اودوستی بيرغ
ژوند په مينه مينه باندې ښه ښکاري
تل دې وې رڼانده دوروری بيرغ
يو افغان په بل باندې وژل څله
منځکی يې دجنګ اور بلول څله
غيږ مې درته خلاصه راتر غاړې شه
((بيل)) ((قتيله)) دلته او سيد ل څله

کابل
1361/7/19

# سوله

جنګ دې ورك شی صحرا جوړه کړي ګلزار نه
کنډ واله او کنډ ر جوړ کړي له لوی ښار نه
نازولی د جهان په کې تباه شي
شتمنی يې قربانی کړی له سور نارنه
هره خوا تورې لو خړې پوته کيږي
ماشومان د مور په وينو کې شتيږي
جنګ وحشت دی خدا يږ ولوی بربر يت دی
دودان جهان له پاره ستر، آفت دی
وچ لانده دواړه سوز يږی د جنګ اورکې
دانسان دژوند له پاره مصيبت دي
بېوزلي له جنګ جګړي ځنې زيږ يږي
چې هر څه په مخه ورشی تباه کيږي
جنګ انسان په بده ورځ باندې اخته کړي
دټول عمر زيار محصول يې ابته کړی
جوړ وجو دد جنګ له لاسه شل او شوټ شي
لندې غوبنې په سره اور باندې برته کړي

زه په سوله امنیت باندې مین یم
زه انسان یم محبت باندې مین یم
نیکمر غي دانسان غواړ مه جهان کې
په وروری اوصمیمیت باندې مین یم
چې انسان په کې ښاغلي پاتې کیږي
څکه سولې لره زړونه هو سیږي
محترم دي دانسان عالي مقام وي
ددوستۍ سولی بیرغ دې لوړ مدام وي
چې موسکا په وچو شونډو خپره کاندی
د((قتیل))دی په هغه باندې سلام وی
چې پرې تل لمر په جهان باندې ځلیږي
نوراني وړانګې یې هره خوا خپر یږي

کابل
1362/3/16

## د جنګ سره جنګ

زه د جنګ سره په جنګ یم
جنګ زما ښایسته نړۍ کړي
په لو خړو تکه توره
ښایسته ښکلی ماشوم وي
دمور غیږه کي لوبیږي
مور یې وتخڼوي مینه
لغتکی کړي مستیږي
بم د پاسه را غوټه شي
دمور وینو کې شتیږي
مینه وچه شي په زړه کې
زړه ټو پونه ودریږي
نه خندا او نه مو سکا وي
فواري وي دسرو وینو
دانسان له زړه خو ټیږي
جنګه ورك شي جنګه ورك شي
زه له تا سره په جنګ یم
ښایسته ګلان خزان کړې
دښته جوړه کړې له کوره
مور دزوی سر ته ژړ یږي
زوی د پلار پسې ګر ځیږي
همدا چیغی وي هر ځای کې
هلئ پلار مې هلئ زوی مې
هلی ساه مې د مور خیږي

چې لمبه پرې بله را شي
شنه تخته شي و غز يږي
ښايسته ښکلي مخو نه
داسې واړ وی په بله
چې هر ګز پيژندی نه شي
بل لاڅه چې دی په خپله
خلاصه کړې چې تا خو له ده
او لسونه دې خوړ لي
جنګه تا سره په جنګ يم
تا ښکلا ته مې د مينې
ده ور کړې ښنه نوره
ښايسته ځوا نان دې ورك کړل
ددنيا له ښکلی مخ نه
ښه سو غات دې شل او شوتې دي
څوك بې لاسه څوك پې پښو وي
جنګه ورك شې تور ښامار يې
دانسان دسر قاتل يې
نه دې زړه په چار حميږي
نه دې مينه را پا دينه
داته څه لوی مصيبت يې
دمغرور انسان افت يې
اوراو وينه در سره دي
دښايسته نړۍ له پاره
ته لوۍ تندر يې هيبت يې
ځکه تا سره په جنګ يم
جنګه ورك شي له دنيا نه
چې ژوند خلاص شي ستاله اوره
تل دې سوله امنيت وي
چې جهان ټول محبت وي
هر خوا مينه وی خندا وي
را خپره په وچو شو نډو
دغريب ماشوم مو سکاوي
تازه ګی او طراوت وي
هره خرا ښکلا ښکلا وي
هره خوا زينت زينت وي
ژړا ور که وي او له خولو نه
ښه وروری صميميت وي
ژوندون خلاص له بېوزلۍ وي
محترم انسانيت وي
جنګ دې ورك شي تالا نګردي
سوله تل دې ژوندۍ اوسي
زه دجنګ سره په جنګ يم

جنګ زما ښایسته نړۍ کړي
په لو خړو تکه توره

کابل
1362/4/1

# زما مینه

زما مینه دبیو زلو نیکمر غي ده
دزیار کښو بزګرانو هو سایي ده
چې رټلي د بابا (( بی بی)) ټول عمر
د هغې مجبورې کونډې سو کالي
زما مینه درد ځپلو ته خدمت دی
دشهید په یتیمانو مر حمت دی
چې ټول عمر بل له پاره خدمت کاندي
زما ژوند دی زما عشق او محبت دی
زما مینه ده چې ټول جهان ودان وي
له لوخړ و دجنګو نو په امان وي
چې خپره کاندي خندا په وچو شونډو
زما ژوند دې له هغه ځنی قربان وي
زما مینه دنیکمرغ پا ییښت دوام دی
یم خوشحاله چې انسان چیرې آرام دی
چې په ګرد کی یې ذرات دتو پیر نه وي
یم مؤمن د هغې خاورې پاك مقام دی
زما مینه دزیار کښو خو شحالي ده
دجهان د محکومانو آزادي ده
سستې شوې نور کړۍ داسارت دې
دغور ځنګ په هریو خیز کې ابادي ده
زما مینه بې‌وزلي کتلی نه شي
اسارت دسړ یتوب زغملی نه شي
چې سپیره په خاورو خړ ماشوم موړ نه کړي
دهغه ځواك اقتدار منلی نه شي
زما مینه د ټو لنې جوړیدل دي
استثمار په کې له سره ورکیدل دي
کرامت چې دانسان په کې خوندي وي
دې نړۍ کې داسې ژوند اباد یدل دي
زما مینه دکارګر ، بزګر و حدت دی
ورورولي ، برابري ، صمیمیت دی
چې په تن باندی ټول پټ په نس ماړه شي
بس همدا مې خوشحالي او مسرت دی
زما مینه ده چې سوله کې ژوند ون وي
امنیت هم سر نامه دهر مضمون وي
چې مصئون په کې انسان انسانیت وي
دې نړ ۍ کې دزیار کښو پیو ستون وي
زما مینه سړ یتوب ته احترام دی
زما مینه دانسان عالي مقام دی

زه انسان يمه له ميني مي زړه ډك دی
زما مينه سوله ، امن او سلام دی
نو!
زما مينی د ((قتيل)) زړګی تسل شه
ته ملګری مي د مينی د منزل شه
دانسان په بې‌قدری مه راضي کيږه
زخمي زړه له خاور و پورته کړه درمل شه
کابل 1362 /4/7

# سوله

سوله امنيت مي دبېوزلي زړګي هيله ده
تانده په دې هيله دحساس زړه هره نيله ده
پرې چې دنيا ښکلی وي ، سمسوره وي ګلونه وي
پرې چې ددوزخ په عوض هر ځای جنتونه وي
پرې چې ابشارونه وي مستي وي او خوند ونه وي
پرې چې د بد مستو پيغلو مست مست اتڼو نه وي
دې مستو دروکې د تنزرو او ازونه وي
ژوند وي له وحشت آزاد
عشق له مصيبت آزاد
تل وی محبت آزاد
دغه زما هيله که کثيره که قليله ده
تانده په دې هيله دحساس زړه هره نيله ده
سوله کې ژوندون دوطن پال زړګي آرمان دی
مه پر يدئ چې وران دغه جهان شي په ما ګران دی
داشاعر زړګی می مين شوی په انسان دی
ځکه چې انسان خدايږو معمار ددې جهان دی
دينه د بزګر دګل په رنګ کې ګلستان دی
زيار دبزګرانو دی
شور دبلبلانو دی
ځمکه کې په سوله تيره شوي هره کيله ده
سوله امنيت مي دبېوزلي زړګي هيله ده
جنګ دهستئ ضد دی له نيستئ‌سره ملګری دی
دغه ستر آفت دبر بادئ سره ملګری دی
اور دی اوربيخي د نابودئ سره ملګری دی
چاوې چې اتوم بم له هستئ سره ملګری دی ؟
يا کومه ګو ښه کې له خوښئ سره ملګری دی ؟
چير ته چې لګيږي اور
درومي پر اخيږي اور
زر کله سړيږي اور
اورته داتوم تيښته ملګرو بی دليله ده
سوله امنيت مي دبېو زلي زړګي هيله ده
چيرته چي اوربل شی بلوونکی به اول سوزي
خدايږوچی دښمن دژوند انه به په کې تل سوزي

چیر ته که یو سوزي فیر کوونکي په کې سل سوزي
جنګ چې جوړوی هغه توردیو به لومړی ځل سوزي
دا اور بلوونکی ستر وحشي دی پکې شل سوزی
بیا تر ینه خلاصیږي نه
روغ به پاتې کیږي نه
تیښته کې بجېږي نه
دغه سره لمبه له دوزخي اوره ذلیله ده
سوله امنیت مې دبېوزلي زړګي هیله ده
زه دانسان زوی یمه انسان لره ژوندون غواړم
مینه محبت کې دې جهان لره ژوندون غواړم
خو ند دشاعرۍ ته ګلستان لره ژوندون غواړم
زه دشاعرۍ رنګین بیان لره ژوندون غواړم
زه هر یو وهلي دخزان لر ه ژوندون غواړم
مه وژنه انسان ګوره
تل دې وي جهان ګوره
مړه یې دښمنان ګوره
سوله نعمتونه کې او چته بې بدیله ده
سوله امنیت مې دبېوزلي زړګي هیله ده
پرې چې دماشوم خولګۍ وي ډکه له موسکا ځنې
پرې چې دانسان بچي څه خوندواخلی دنیا ځنې
پرې چې مصیبت اوآفت کم شي له هر چا ځنې
پرې چې ژوند خوښي شي دنیا ډکه شي خندا ځنې
مینه شي وروري شي ، محبت شي هرې خوا ځنې
مرګ په ځای ژوندون اوسي
سوله کې سمون اوسي
دادژوند مضمون اوسي
بیا نو بلا ورکه له شعرونو د ((قتیله)) ده
سوله، امنیت مې دبېوزلي زړګي هیله ده
کابل
1362/8/29

## دخلکو آرمان

سوله ، پیوستون ، وروری آرمان د خلکو دی
دې کې هر آفت نه خلاص جهان د خلکو دی
زه ګوره انسان یمه انسان ته زندګي غواړم
ورکه له نړۍ نه جنګ، جګړه او بندګي غواړم
سوله دزخمي زړونو در مان د خلکو دی
جنګ بشکلې نړۍ په کنډ واله باندې بدله کړی
تانده او ځپانده هیله کورکی دزړه شله کړي
کورد تاند و هیلو ته نیران د خلکو دی
څنګه یو انسان دبل انسان په مرګ خندا کوي
یاد کوم مظلوم انسان په وینو مشغولا کوي
دیود استبداد په کور تو پان دخلکو دی

ښکلي ماشومان د مور په غیږه کې موسکا کوي
خاندي خوشحا لیږی له خو ښۍ ځنی نڅا کوي
بم پرې راغوټه شي جنګ قتلان د خلکو دی
زه ټوله نړۍ کې تامین سوله امنیت غواړم
ژوند غواړم، ورورې غواړمه مینه محبت غواړم
سوله ده چې زړه په کې خندان د خلکو دی
واړه دجګړې طرفداران له نړۍ ورك ښه دي
دغه دانسان دښمنان ټول په سپکو سپك ښه دي
دوی باندې لعنت، نفرین باران د خلکو دی
پریده چې مستي وی ، خندا ګاني وي ګلونه وي
پریده چې دژوند ټولو اړخونو کې خوندونه وي
دغه شان ژوندون کې او چت شان د خلکو دی
پریده چې خوله ډکه له خندا دماشومانو وي
پریده چې ښایسته ښکلي دنیا دماشومانو وی
زړه په دې نړۍ زیات مهربان د خلکو دی
پریده چې مقام دسړ يتوب ته احترام وي
زیات له هر مقامه ځنی لوړ دغه مقام وي
ژوند باندې مین انسان انسان د خلکو دی
پرې چې دشاعر زړه په ګلونوکې مستي وکړي
وخاندي خوشحاله شي خوندونو کې مستي و کړي
سوله کې (( قتیله)) لوړ عنوان د خلکو دی

کابل
1363/9/12

# لمره!

دجهان د هسك د پاسه ، تل ځلیږه

دژوندون بهبود له پاره

راخپرې کړ ه خپلی وړانګی

مخ په وده یې ژوندون کړه

هره خوا سمون سمون کړه

نفاق ورك کړه پیوستون کړه

دتودووړانګو د لا ندې

دجګړې لو خړې ورکې کړه جهان نه

شر کړه لرې له انسان نه

انسان ساته له تو پان نه

تل ځلیږه د هسك لمره

ژوندون وژغوره له شره

چې هر اړخ دژوندوي سوله

دجنګ نوم ورك وي له خو لونه

دجګړې په ځای خندا وي

دخوښۍ جوړه دنیا وي

له وروری ډکه فضا وي

دجګړې اور بلوونکی

خپله وسوزي په اورکې

ددې اور په بټۍ وريت شي

هره خوله له خندا ډکه

تل ځلیږه دهسك لمره

چې ژوند خلاص اوسي له شره

ټول ژوندون خندا خندا کړه

دغموریښې تباه کړه

زه شاعر یمه دسولې

زه مین یمه په سوله

دا آرمان مې دزړګی دي

داز ما دعشق لیلا ده

دامې مینې ته پیدا ده

زه په دې مینه ژوندی یم

تل دې ژوندوي دهسك لمره

انسان وژغوره له شره

لمره نور هم وړانګو رشه

تیاره ورکه کړه له ژونده

چې جهان رڼا رڼا شي

خوشحالي دژوندون سا شي

ژوند مستي او خوشحالي شي

هر یو اړخ یې ورور ولي شي

چې بې غمه لو بیدا وي

دکو چنیو مشغو لاوي

داسې ژوند زما ارزوده

تل ځليږه دهسك لمره

ژوندون وژغوره له شره

دازرينى خير بخښو نكې

وړانګې تيتې كړه خپرې كړه

ټول دښتونه مې ګلان شي

كروندې شي، ګلستان شي

شي باغونه، چمتو نه

دژوندون واړه اړخونه

ډك له سولې امنيت وي

مساوات او عدالت وي

د((قتيل)) دا تمنا ده

تل ځليږه دهسك لمره

چې تيارې دژوند رڼا شي

كابل 15/10/ 1363

## دبېوز لو نيكمر غي

دا په مونږه را تپلې چا جګړه ده
چې افغان په كې له لاسه دافغانمري
داچې وچ په كې باغونه دژوندون شول
او په كې مود ژوندون خدمتګاران مري
دا جګړه ده كه بلا په مونږ ناز له
چې په كي موټول سپين ږيري ماشومان مري
څه سو غات دی د رڼا ددښمنانو
جوما تونه سوزوي او عا لمان مري
داكنډ ر وطن به خا مخا جوړ يږي
دښمنان ددې وطن به رسوا كيږي
داچې مونږ په كې مړه كيږو وژل كيږو
دما شوم دشيدو جام مو چپه كيږي
چې تې خورې مرې د ميندو په سينو
تاندې خولې يې چې په تی پورې وچيږي
دلته څه جرم دی خلكو زمونږ كړی
چې په مرګ يې ددښمن زړه نه يخيږي
دغه څه عظيم جرمونه مو نږه كړي

چې افغان ځنې دښمن راته جوړ یړي
دوطن په آزادۍ باندې نازیږو
دیو بل په خوشحالۍ باندې نازیږو
دغریب بزګر دزوی په وچو شونډو
آزادۍ را خپره کړي ده مو سکا
د ظالم لاس د مظلوم له ګریوان لنډ شو
را نسکوره شوه تخته د نا رواسا
دکلونو مزدوران دي خوشحالیږي
مفت خورانو ته یې کډه کړه په شا
دظلمو نو زنځیرونه دي ما تیږي
تیاره خونه دبېوز لو شوه رڼا
دښمن غواړي چې خوښي راځنې واخلي
دا خوښې او خوشحالي راځنې واخلي
دا خپلواك وطن موو پلوري په نورو
له نقشي ورك تاریخي افغانستان کړي
دوطن دمور پر ونی کړي بی پته
در بارونوکې غلام زوی دافغان کړي
بیا د ځوان د متوزور د ځان خوراك کړي
ځان هوساد غه د خېټې پهلوان کړي
دغریب دلاس پولی دځان خوراك کړي
رنګینه ددوی په وینی دستر خوان کړي
بس په دې نیت وطن فروش تړلي ملاده
دنیکمرغه ژوندانه په سر بلاده
دهیواد ننګیال بچیه وطن ساته
دوطن دسر حدونو نګهبان شه
مخه وتړه دغلو داړه مارانو
ځوان قوته ددښمن په سر توپان شه
دهیواد بیبیا نې وساته پتمنې
ددښمن لاسونه لنډ کړه پهلوان شه
پولی وساته د هسکو غرو سر بازه
سوله ساته د ((قتیل)) زړګي در مان شه
چې دسولي امنیت ځوك دښمنان وي
تباهی ته ملا تړلي یې ځوانان وي

کابل
1365/7/10

د مومند بابا پر لیکه

# غزل

خوږ نظر دې را نه زړه او لړمون وکیښ
دا جادوؤ که دستر ګو افسوس و کیښ
دنظر ناوې په مینه را خوره شوه
له میانه یې سترګو فراق او بیلتون وکیښ
بیا مې مینه په جاموکې نه ځایږ ي
((اهو چشمو)) یې آرمان د جنون وکیښ
وروه ور باندې نمشي د ښو دې
چې یاغي مینې مې ځان له سمون وکیښ
پر یشانی د توروز لفو په مخ ګل شي
خودله سده پسی سرا فلاتون و کیښ
داغزن  نظر باران ته به څوك ټینګ شي
نومیالی یې د زمان له ازمون و کیښ
دنظر په اوریې زړه را ته کباب کړ
خود له ستر ګو یې زما نن جیحون وکیښ
دوطن لیلا ښکلا نه دې قربان شم
لیوني آرمان دستر ګو تږون وکیښ
دزلمو پټکی به ښکل دوطن ګل کړي
چې یې سرله ګریوانه دها مون وکیښ
ګلې ستا له ناز ولی پیر زو ځارشم
چې دې ښار دتوروز لفو ګلګون و کیښ
زما مینې ای زما دوطن حوری
ستا (( قتیل)) داستا په مینه مضمون وکیښ

کابل
1366/3/27

# کابل

له دوستی ډکه فضا لري کا بل

ژوند ببنو نکي ښه هوا لري کابل

هر طرف په کې دګلو ننداري دي

نازنینه محبو با لري کابل

دمیو و او دګل مخو سیال یې نشته

خوږنظر د مسحیا لري کا بل

ود مینو مرا دونه (کې) ، حاصل شي

دغه راز  خوا جه صفا لري کابل

نند اره يې له کيفو نو نظر ډك کړٰ

دګل مخو تما شا لري کابل

داز انګو د محبت مسکن و مينې

دټپې زړونو دوالري کا بل

هر يو ستړ ی يې په خوږ نظر هو سا شي

خدا يږ وداسی دلر با لري کابل

دبيو ز لو ارزو ګانو تسلا ته

خوږه غيږه د ليلا لري کا بل

له ګل مخويې قربان د((قتيل)) شعر شه

دغه حق خدايږو په مالري کابل

کابل

1366/4/25

## دا د سولې پسرلی دی

هر يو پير مي د نظر دی له کيفونونه ډك شوی

که زما دزړه جهان دی له ګلونونه ډك شوی

دادلمر له هسکه کوره دي ګلونه وريد لي

چې نظر دنظر باز وله خوندونو نه ډك شوی

کاروانونه دي باريږي له هر کوله هرې سيمې

رنګ اوبوی يې دی بار کړی ټول رنګونونه ډك شوی

دغه عام بخشش د چادی چې وطن ټول ګلالی دی

دادسولې پسر لی دی دادسولې پسرلی دی

پسر ليه ته دې ښاد شې دانا ښاده زړه ونه ښاد کړه

داريچاړ کنډر کورونه بيا ودان کړه بيا آباد کړه

اغزي وباسه له بيخه چار چاپيره زما ګل کړه

چې ګلونه ريژوي څوك ته هماغه  کس برباد کړه

چې بديوپسې ګرزي دهغو نيکو ته پام کړه

چې دا ورانې کړي و دانې دټینګ عزم ټینګ بنیاد کړه

بیا د پیغلو پیغلو هیلو له ګلونو ډك کالي دي

دادسولی پسرلې دی دادسولې پسرلی دی

چې وطن مې شي باغونه په وحدت دیرې تو دې شي

دلته ګل شي هلته کل شي په الفت حجرې تودې شي

وروړ دوروړ سره پخلا شي زوی د پلار دپګړۍ ګل شي

له یوبل نه ځاریدل وي په عزت دیرې تودې شي

دښمنیو په سینو کې ددوستۍ زڼې زرغون شي

دپلرونود نیکو نو دغیرت دیرې تودې شي

هره پیغله مې پتمنه هر زلمی مې پتیالی دی

دادسولې پسرلې دی دادسولې پسرلی دی

پسر لیه افرین شه که په مینه ملك ودان کړې

په قدم قدم کې ګل شي پرې راجمعه بلبلان کړې

چې کشور دافغانانو له عطر ونوځنې ډك شي

((دهر شعر هره مصرع مې خورې زلفې د خوبان کړې))

هر شاعر مې پسرلیه څوك خوشحال کړې څوك رحمان کړې

په دې هیله مې نیولی ستا درکاه ته خپل تالی دی

دادسولې پسرلی دی دادسولې پسرلی دی

کړه د مینې تند ه ماته په زلمو زلمو ګلونو

خوشحالۍ مو په نصیب کړې نور مو خلاص کړې له غمونو

له فیضو نو ځنې ډکه مالا مال له بر کته

داپښتو را سره وکړه ای مخکښه درنګو نو

مینان په مینه کښیني دیو کور یوې چیرګۍ کې

خوشحا لي له مستۍ ډکه شي ماړه په دیدنونو

غیږه خلاصه هر کلي ته په خندا موهرزلمی دی

دادسو لې پسرلې دی دادسولې پسرلی دی

داچې ایښي دي وربل کې رنګارنګ ښایسته ګلونه

دبزګر دوینو رنګ دي ښکلي کړي دارنګو نه

چې له کیفه پرې ډك شوی دی نظر دمینا نو

دادکار او زیار محصول دي له تیا کوډك لاسونه

چې ژوندۍ پري ساتل شوې د((قتیل)) دزړګي مینه

دپښتو دلیلا حسن شي کیفونه شي خوندو نه

مرور زړونه پخلا شول په ګلونو هر کلی دی

دادسو لې پسرلی دی داد سولې پسر لی دی

واصل آباد

1367/1/10

## دسولې پر ښته

چې دسولې پر ښتی وي
خپاره کړي خپل ځانګونه
دتوپك وسپنیز اورته
نیول شوي نه وي زړونه
چې طاغوت دکینې کرکې
ګونډه شوي وي انسان ته
چې دظلم و استبداد دیو
په کینه نه وي جهان ته
چې دژوند ښاپیرۍ پیغله
له زندۍ نه وي ازاده
چې نړۍ دانسانانو
وي الفت باندې آباده
دوحشت له لتې خلاص وي
دماشوم دشیدو ډك جام
چې موسکا په شو نډو نا ځي
دمور غیرړه کې مستي کړي
دجګړې لمبې وي تپې
دزورزوروي اوبه شوي
احترام وي سړ یتوب ته
وي لمن دژوندون خلاصه
دقدرت دلیو نیا نو له وحشته
نو کار ګر به په هو سازړه
دماشین ځرخو نه تاوکړي
نوپولۍ بۀ دلاس ګل شي
دښایست رنګین اوربل ته
مست به شعر شي غزل شي
په مستۍ به کار ګران شي

بوخت په کار دخپل جهان شي
دتولید سطحه شي لوړه
بېوزلی نه خلاص په یو مخ
داز مونږ افغانستان شي

کابل
1368/2/8

# د مور پړونی

یو مو تی خاوره دوطن به په جهان ورنه کړم

دوطن مینه مي ایمان زه به ایمان ورنه کړم

دغه له پلار ځنی خپلواك را پاتې شوی وطن

دغه نا موس دغه عزت به په هیڅ شان ورنه کړم

وطنه ته مي دپتمن ژوندون دسر سیوری یې

ته میراثه یې دافغان زه به افغان ورنه کړم

درګووینه مو داستا په مینه زړه کې غورزي

ماته له خپله ځانه ګران یې زه به ځان ورنه کړم

هسکې شملې نښتر قدونه به دې ساتي عزت

دځوان غیرت دمیني کوریې زه به ځوان ورنه کړم

زما دژوند شمله په تا باندې او چته ښکاري

ستا سپېرې د ښتې به دبل په ګلستان ورنه کړم

ای همیشه افغانستانه همیشه به اوسې

په هیڅ قیمت به دافغان ژوندون داستان ورنه کړم

ذلیل دښمن درته دامونه د فساد ایښې دي

دعزت کوره ستا وجود به په زمان ورنه کړم

ته مې شمله یې دبابا ته مې پړونی د مور

ته مې میدان یې دشرف زه به میدان ورنه کړم

داستا هر بوتی به دزړه په وینو تاند سا تمه

د ((قتیل)) مینې ستا ذره به په دوران ورنه کړم

واصل آباد

1371/4/22

## فخر کوي

اشنا په میرني زړګي بدن فخر کوي
زلمی چې ننګیالی وي پرې وطن فخر کوي
چې خاوره دوطن مو په مردارو باندې پلوري
نا مرد د خا ینانو په دیدن فخر کوي
چې ځاریې له اغزیو دوطن شي دسروینه
په داسې میر ینو خپل مدفن فخر کوي
چې ننګ په تیره توره دادې پرونی ساتي
په داسې تور یالیو تل مسکن فخر کوي
چې وي راټوکیدلي د میراني له مزاره
پرې واړه ګلګځونه او ګلشن فخر کوي
وطنه میړ نیه هسکه غاړه دې شمله شه
شمله دې ټیټه مه شه پرې هر تن فخرکوي
باك نه لري چې حرص په کنډ والو باندې بدل کړي
خپلو اکه کنډواله کې ځنګدن فخر کوي
دنر میرني کوره په میړانه به دې ساتم
ګوزار دمیر نو باندې زیستن فخر کوي
هردم او هر قدم مې صدقه ستاله اغزوشه
هر کلی دې عطار دی پرې ختن فخر کوي
((خادم)) چې په اخلاص وی څوك دملك اود ملت
وطن یې پس له مرګه په مدفن فخر کوي ))

دزلفو په وريښمو چې كفن ورته تيار شي

شهيد زړګی د مينې په كفن فخر كوي

چې ويښ كاندی وطن كې داخپاره ويده دستونه

(( قتيله)) په شعر وبه دې دمن فخر كوي

جلال آباد

1374/6/18

# دژوند ون ښاپيری

كومې ګنا ه باندې څوريږي د ژوندون ښاپيری
چې په لغتو وهل كيږي د ژوندون ښاپيری
دغه څه ټكه پريو تلي ده زمونږ په كلي
چې په اغزيو را كشيږي د ژوندون ښاپيری
له دغه كلی جنازه ده دزړه سوي وتلې
په سكرو سرو ټو كبا بيږي د ژوندون ښاپيری
دلته نو ولې څه عزت دسړ يتوب نشته دی
خدا يږو له هرې خوا سوغيږي دژوندون  ښاپيرې
دسړ يتوب په سر سودا او معا مله روانه
په توتو دوه توله خو څيږي د ژوندون ښاپيری
دابده ورځ دسړ يتوب به كوم سړی وژاړي
په خپلو وينوكې شتيږي د ژوندون ښاپيری
وحشت څه لو بی شروع كړي دآدم په بچو
دا ستبداد په اور سو زيږي د ژوندون ښاپيری
درنې پګړی دسړ يتوب ريښكی ريښكی پر تې دي
له شرميد لو نه شر ميږي دژوندون ښاپيری
دنګی مانی ، عالي قصرو نه دي وحشت نيولي
په كنډرونو كې اوسيږي د ژوندون ښاپيری
پتمن پرونی د بيبيانو بې عزته پروت دی
دبې حيا لاس كې لوبيږي د ژوندون ښاپيری
نن ليونی و حشت بيخي له ګوزارې و تلی
اغزنو دښتو كې ګرځيږي د ژوندون ښا پيری
نن د وحشت د استبداد او نا رواله لاسه
ويرې اخيستي ده لړ زيږي د ژوندون ښاپيری
چاپيريال ټول له بی وسيو بې وزليو ډك دی
دغرور پښتو كې حلا ليږي د ژوندون ښايری
عدل وانصاف له پښو نه څوړ نددی كو كارې وهي
له ظالمانو ، نه خلا صيږي د ژوندون ښاپيری
((قتيله)) نور ه يې دصبر كاسه ډكه ښكاري

ملي پا ځون ته تيار يږي دژوندون ښاپيرۍ

جلا ل آباد
1374/7/22

# لو نګين

دا نه دا نه شو لو نګين د ژوندانه د نا وي

له وحشتو نو شوزږه خوږين دژوندانه د ناوې

هغه پړونی داغزنو د ښتو يون و خواړه

چې به هر چاته ؤ سنګين د ژوندانه د ناوې

درنې پګړ ۍ ريښکې ريښکې شوې دبيد يا بوټو کې

ناست دی بآباورته غمګين د ژوندانه د ناوې

دګر يوانو نو ټوټی يووړې دو حشت منګولو

په ژړا ژاړي نازنين د ژوندانه د ناوې

ښکاري پټمن غيرتي ژوند په بې وسيوکې ګير

نه په کې سور شته او نه شين د ژوندانه دناوې

داځه وحشت ځه ليو نتوب او په ژوندځه لوبې دي

((قتيله )) سر شو په کې سپين دژوندانه د ناوې

جلال آباد

1374/7/29

# ملی خفګان

دا چيغې فريادونه دا نسان با ره کې دي
داسوې سوې ساندې دافغان باره کې دي
ژوندون دلته مظلوم دی پرې دپاسه اور بليږي
دزړه مهربان کورکې ارزوګانې دي شتيږي
په زړونو باندې ربه ډول ډول لوبې کيږي

په زړه معا ملې واړه د جهان باره کې دي
داسوې سوې ساندې د افغان باره کې دي
داوراود باروتو په ډیرئ کې انسان ګیر دی
بشر په غم ککړدی ورسره نن افغان ګیر دی
دوینو په حمام کې خدایږو هریو په ځان ګیردی
اهو نه دزړګي مې دآسمان باره کې دي
داسوې سوې ساندې دافغان باره کې دي
انسان دلته ځوریږي څه ګناه ده ورنه شوې
له مرګه نه خلاصیږي څه خطا ده ورنه شوې
په ژوندیې لوبې کیږي ناروا ده ورنه شوي
پر یشانه اندیښنې مې دخپل ځان باره کې دي
داسوې سوې ساندې دافغان باره کې دي
جنګو نه دي لو خړې دي سرې وسپنې وریږي
داټولې ددې خوار افغان په سر باندې ښخیږي
ژوندون په غم ککړدي تاندې هیلې دي سوزیږي
پولی دزړه په سرد مسلمان باره کې دي
داسوې سوي ساندې دافغان باره کېدي
افغانه مسلمانه دا غریب د خدای انسان دی
په ژوندیې ور حمیږه څو شلیدلی یې ګریوان دی
ریښکی ریښکی پټکی یې لالهانده سر ګردان دی
شعرونه د ((قتیل)) ملي خفګان باره کې دي
داسوې سوي ساندې دافغان باره کې دي

جلال آباد
1374/7/29

# لو

دوطن په شاه زلمیا نو لو ګډ شوی

ببر سرو لیو نیا نو لو ګډ شوی

دالفت د بڼ ګلونه ټول تالا شول

دچمن په سرو ګلانو لو ګډ شوی

دبلبل ځو انیمر ګی ژاړمه خلکه

چې د حسن په یارانو لو ګډشوی

آرمانی د محبت راز و نه ښکاري

چې په زلفو د خو بانولو ګډشوی

د(( وطن)) قتیل به سر زیري کې ورکړي

که چاووې په وحشیانو لو ګډ شوی

جلال آباد

1374/6/18

## دسو لې بر یاوې

دسړ یتوب  دکرامت خوندې کیدو له پاره

داستبداد ددیو پنجونه خلاصیدو له پاره

دما شومانو دسور کو شونډو دگل د پاسه

دمور د مینې انعکاس یې په موسکا کې ښکاري

چې دشیدونه ډك جامونه یې چپه نه شی نور

دمور دغیرې دژوندي پا یښت دعا کی ښکاري

دجنگ جگړې تورو لو خړو دودوهلی ژوندون

له قا تلانو دخلاصون په تمنا کې ښکاري

دهوسا ینی ، نیکمرغي اوسو کالی په ښه خاطر

انساني هڅې بریالۍ په هرې خواکې ښکاري

دمینې کورد ظالم زور دی له نفرت ډك کړی

دژوند دښمنوسره کرکه په هر چا کې ښکاری

سوله، وروري ده دشریف ژوند او سیدو له پاره

داستبداد ددیو پنجو نه خلاصیدو له پاره

دچا په لمسه دانسان په مینه اورولگید

داڅه تو پان نن دبې‌وزلي ژوند په کورو لگید

دا بې قدري دسړ یتو ب ژوندون ته چاراو سته

دا تپل شوی جنگ په مونږ له کوم خو نخور ولگید

په دغه څاله کې راټولې جنتي مر غۍ وې

دکوم ظالم ښکاري په دغه ځاله زورولګید

پرې چې را ټول دا ښایسته ښکلې مرغۍ شي سره

کاشکې که بیا یې جنتي ځاله کې شور ولګید

کاشکې چې بیا دخپلې خوښې ترانه شروع کړي

دغه اواز دخوږ وطن پتمنې مور ولګید

په یوه خوا بآندې د ټولو ټولید و له پاره

دسږ یتوب دکرامت خوندي کیدو له پاره

دغه دور ور وینو ته تږی په لمسون د چا شو

تې خوري وژنې د مور غیږکې دا مجنون دچاشو

نه دجرګې ، نه دشورا، نه دسپین ږیرو منې

دومره بې لارې اوبې سده په افسون د چا شو

دخود غرضود زامنو سات تیری له پاره

افغانان وژني په افغان حالت زبون دچا شو

دوطن زویه ، دمیرویس او احمد شاه بچیه

دروښان ننګ دخوشحال توره نو مضمون دچاشو؟

دچا له پاره دې ټو پك راخېستی څوك پرې وژنې؟

دلته هم ته ، هلته هم ته یې داتړون دچا شو

چاړه را اخلې خپلو جرړو دویستو له پاره

بشر دښمنو دیو ه سات خند یدوله پاره

افغانستان باندې به مرو افغانستان به ساتو

له هر نښان نه به تیر یږو خپل نشان به ساتو

چې مودښمن ورته اوبوکې خوله کیږي ظالم

دهسکو غرونو د ټاټوبې ګلستان به ساتو

هغه څه سردی چې ګریوان نه ددښمن پورته شي

سراو ګریوان په خدای قسم دی چې افغان به ساتو

دښمن دښمن دی له دښمن ځنې خپل نه جوړیږي

که ساتو وروره ددې خاورې ښه دوستان به ساتو

دیرې حجرې به دپلر ونو له خندا ډکې کړو

په خپلو متو دغه خپل وطن ودان به ساتو

((قتيله)) ټول به کار کوو دلوړ يدوله پاره

داستبداد ددېو پنجو نه خلاصيدو له پاره

کابل

1367/4/7

## وحدت اوورورولي

سمون دخپل ژوندون ته په يووالي مخکې ځو
په دغه لاره يون ته په يووالي مخکې ځو
ټپي،ټپي وطن ته به پټۍ دوحدت ګورو
وروري اوپيوستون ته په يوالی مخکی ځو
چې مونږه بيلوي هغه لا سونه لنډوو به
مونږ ټول دغه ازمون ته په يووالي مخکې ځو
هيڅوك به بريالی نه شي اوبه په ډانګ کړي بيلي
ويجاړ وطن سمون ته په يووالي محکې ځو
نفاق چې مو په مخ کې اچوي زمونږ دښمن دی
غليم حالت زبون ته په يووالي مخکې ځو
لاسونه به يو بل ته ورکووچې وطن جوړ شي
وژلو دبيلتون ته په يووالي مخکې ځو
وطن زمونږه کوردی نغری مود بابا دی
ديرې حجرې جوړون ته په يووالي مخکې ځو
دمينې عاشقان يو، پتنګان د محبت يو
په نره خپل پرون ته په يووالي مخکې حو
باوروکړه غمازه افغانان نوك اواورۍ دي
دخپل دښمن وژون ته په يووالي مخکې ځو
نفاق مو غيرت وژني دماشوم موسکا کړي وچه
بدبين مود تړون ته په يووالي مخکې ځو
وحدت اوور ورولي مولوی حامي دنوا ميسو
ددغه حامي شتون ته په يووالي مخکې ځو
وطن زمونږه ځان، زمونږ جهان زمونږ جانان دی
ليلا ساتو مجنون ته په يووالي مخکې ځو
دښمن دورورولی ملا ماتو ونکی ځواب غواړي
دې شان اودې شؤن ته په يووالي مخکې ځو
نالاره د(يا قربان) به په وحدت پورته کوو
شپېلی به دخپل شپون ته په يووالي مخکې ځو
لاسونه د نفاق به دوحدت په توره پرې کړو
شړ لود ملعون ته په يووالي مخکې ځو
دنر ميرني هوډه دافغان دپګړۍ ګل شه

ټول داسې اوښتون ته په يووالي مخکې ځو
يو تن او يو وجوديو افغانان سره ((قتيله))
دښمن باندې شبخون ته په يووالي مخکې ځو

کابل
1389/4/19

# زما سندري

زما تنه خوږ وطنه زه داستا سندرې وايم
زه شا عريم ستا دغرونو دسما سندرې وايم
دسپين غرله هسکو څو کو په پامير دوروری غږدی
ځکه زه داستا دځمکې او هوا سندرې وايم
هره خوا داستا ګلان دي سندريږه دې فضا ده
زه له ميني نه په ډك غږد فضا سندرې وايم
خوشحالخان ځنې دې ځارشم سپيلنی له مياروښان شم
تل داستا په دښمنانو دبر يا سندرې وايم
دريا خان دې پهلوان ؤ ، ايمل دتورْ ځوان ؤ
دښمنان دپر نګيانو زه يې بيا سندری وايم
په ښاپيښ کې دي پراته دي غيرنونه، همتونه
ستا ګزك دغيرت ځلی خا مخا سندرې وايم
لته بندکې دې پراته دي دانګريز وراسته هډونه
جګدلك دغيرت کوردی ورته داسندرې وايم
زه داستا دغرو بچو يم ستا په غيره کې لوی شوی
ستا بچې يم ستا په مينه دبابا سندرې وايم
بلخ داستا ام البلاد دی تمدن لره بنياد دی
جام جم دي هميش ياد دی ديا ما سندرې وايم
ستا د بلخ په منارو کې په ر پاسره بير غونه
ستا نوروز دې تل ژوندی وی دسوما سندرې وايم
اوس هم شور دګونګرو خيږي په نڅا بدری جماله
ورته ناست سيف الملوك دی په خندا سندرې وايم
ميمنه دي ده ابآده دښکلا مظاهرې دي
ورته ناست په تما شايم دښکلا سندرې وايم
شبرغان کې دکار زوږدی (کې) ، موزيك دکار غږيږي
دلاسو هره تڼا كه پر بها سندرې وايم
هره خوا کې دکندز دې ذخيرې د سپينو زرو
ستا بغلان خوږ لکه قنددی په بيا بيا سندرې وايم
دغورې ډند چشمه شير دې دلر غونی ښکلا زيری
نمونې د تمدن دي په رښتيا سندرې وايم
آی خانم دې په تخار کې د تاريخ د باب ښکلاده

دهنر پهلواني دې داشنا  سندرې وايم
دآى بك پهلوانان دې تل په تخت درستم ناست دي
باميان د هنر ښاردې دبود ا سندرې وايم
ستا پروان له يو مخ بې دى شين بخمل پرى غوړ يدلى
زه بلبل دارغوان يم هر سبا سندرې وايم
په کابل کې دې پراته دي عاشقان عارفان دواړه
دازا نګو دمعرفت ده زه (يى) په داسندرې وايم
بت شكن محمود دې پورته دغزنې له پلنو تړو
داياز دمستو سترګو دايما سندرې وايم
سنا يي ، شمس دې هيڅکله له تاريخه نه هير يږي
د تاريخ دهرې پا ڼې هرې خوا سندرې وايم
دزابل غيرتي لو ڼې ددښمن مخ ته سنګر دي
زه ددې غيرتي لوڼو دا داسندرې وايم
د ملالې ميرني غږ دانګريز تانګو نه سست کړل
دغازي ايوب دتورې دخر پا سندرې وايم
سور ميوند په کند هار دانګريزدماتې غږدى
زه په ياد دمير نيو تر سبا سندرې وايم
تيرين کوټ دتورې کوټ دى بر يتور ځوانان په کې دي
شمله ورچې را اوچت شي خا مخا سندرې وايم
چې دفاع د خپل وطن ته دزمرو په شان دريږي
دهغو زلمو په يادکې په بيا بيا سندرې وايم
ابو نصر فراهى دې دسيستان د علم کان دى
فريدون کلا په برج ناست بى پرواسندرې وايم
دشهيد دوينو څاڅکي د ((يزده)) دبڼ ګلان دي
رنګينه پرې سر تر پا يه دفراه سندرې وايم
په ګدام داسيا کې سپيرې دښتې بوړ بوړکۍ دي
زه ددغو بوړبوکيو دور کتيا سندرې وايم
چې خوا ره واره دستو نه دغنمو کروندې شي
ځکه ناست يمه په مينه دبکو اسندرې وايم
چې نيمروز دې پوره ((روز)) شي اميد شته دى وخت نژدى
چې خپره شي په دې دښتو د ځلا سندرې وايم
دهرات او غور پو هان دې دفرهنګ بلې ډيوې دي
زه ددوى دعلم او پوهې درنا سندرې وايم
دبادغيس تورځنې مڼې تکيه ځاى دتاند وهيلو
دعروج په لورې يون کړي دبرښنا سندرې وايم
چې دتورو په سڅ نګهار يې انګريز خلاص شوله غوړو،نه
هره مور ګه يې مور چل دى پکتيکا سندرې وايم
مير نۍ يې پر ګنې دي په قابو ددښمنانو
په اتڼ په دښمن غورزي دنڅا سندرې وايم
دنښترو ځير قدونه ديوه زنځير کړۍ دي
پکتيا وال دغيرت غرونه د پکتيا سندرې وايم
که منګل او که ځدران دي ، احمدزى که نور خيلونه

دوطن پهلوانانو خا مخا سندرې وایم
کاپیسا کې دې باګرام ته تاریخ نوی باب پرانیستی
ارزستناك لر غون آثارو کاپیسا سندرې وایم
مهتر لام دې په لغمان کې دیاغي تورو زمری وو
د سمسورو هسکو ترو دزلما سندرې وایم
په کونړ کې دې سا پیو د((غرور)) غوړونه تاو کړل
دمور چلود بچیانو په رښتیا سندر ې وایم
ستا ((سید)) دشرق مشال ؤ دعرفان ډیوه په لاس کې
زیات ملکونه یې رڼا کړل درڼا سندرې وایم
ننګرهار د ګلوهار دی سندریزه یې فضا ده
دادب علم زانګو کې تر سبا سندرې وایم
ګندمك دې سر تر پا یه دپرنګ په وینو رنګ دی
هر تیری دلته ماتیږی دبر یا سندرې وایم
ستا ګزك او لته بند کې دښاپیښ دبریا زیری
پر نګیان یې ریز مریز کړل قوم زما سندرې وایم
دغه واړه خوږ وطنه ستا دیو وجود اعضا دی
ستا سا تو نکي ننګیالی دي دننګیا سندرې وایم
تا به پورته کړي له خاوروتابه مخکی له هرځای کړي
چې داستا په په مینه ژوند کړي ورته داسندرې وایم
ستا اغږي ته چې بد ګوري دهغه په سر توفان شم
زه((قتیل)) دې هر چمن کې په خندا سندرې وایم

کابل

د 1364 کال د حمل 22 نېټه

## دسولې کوتره

سپینی کوترې په دې سیمه کړه خپرې وزرې

چې ځوریدلی ژوندون

دجنګ جګړو تورو لو خړو

سرواورونوکې وریت

داجل وهلې هیلې

یو څه هوساشي په کې

خلاص له ظلمونو ناروا شي انسان

شي دښکاري منګو لې وچې

اوله سیکه پر یوزي

دسوکالۍ او هو ساینې دښمن

زور استبداد او به شي

له یوې ځالې الوتلې بچي

دادیو بل وینو ته چا تږي کړل

غوښه چاړه شول سره

ګیرد ښکاري پنجو کې

دبې وزلۍ دنیا کې

بې وسه ساه ورکوي

دغه دچا دخو شالۍ له پاره

دچا دزوی دسات تیرۍ هوس ته

دخپلې مور غیږه کې

له موسکا ډکه خولګۍ

ماشوم په اورکې سوزي

دا مهربانه زړګی

دظلم کور ولې شو

دمهر بانه مور زوی

دوروردو ینو تږ ی

دژوند دښمن ولې شو

سپینې کوتر ې راشه

ای درحمت پر ښتې

خپاره کړي خپل وزونه

چې دلته سوله راشه

اوژوند ارزښت پیدا کړي

دژوند ما نۍ شي دنګه

ددښمنۍ بدل کې

ژوندون شي مینه مینه

دسولې سپینې مرغه

سوله داستا ډالۍ ده

سپینې کوترې

راشه

ژوندون کړه خلاص له غمه

چې شي هیواد زمونږه

ستا له خوږې ډالۍ نه

سولې او مینې نه ډك

غیږې شي خلاصی سره

خوږه وروري جوړه شي

خوږه وروري جوړه شي

## سوله جنتي ډالۍ ده

سوله دژوند انه ساه ده ، دسولې اوروغې
جوړې په پاکه او سپیڅلې فضا کی دلمر زرینې
وړانګې مولل شوي اورژیدلي ګلان په ډېره
مینه تخنوي او ددې جوګه کوي یې چې سرو نه
راپورته کړي او په خپلې له موسکا ډکې خولې
دځوریدلي او کړیدلی زیار کښ انسان په وچو
اوکړیدلی زیار کښ انسان په وچواو چاود لو
ژوند وخندا خپره او په زړو نو کې یې خو ښۍ
غزونې و کاندي .
سوله هغه جنتي ډالۍ ده چې دکرامت او شرافت
نه ډك مخلوق یعنی انسان د مرګ له خولې
ژغوري او دژوندانه له رنګا رنګ ګلو نو
ډك جهان دروزاه ورته پرانیزي او
له کیفونو او خوندونو څخه یې د لاډ کو لو
په غرض دتندي دخولو او د لاس د تناکو قدر کوی
دسولې دښمنان دژوند دښمنان دي
اود ژوند دښمنانو هر څوك کر که
له دغې کرکې زیاتوالي په هغه وخت په
څپانده توګه را منځه کیږي .چې بې وزله او
بې ګناه انسان دسروو سپنو په لمبو کې چې
له آسمانه یې دانسانیت دښمنان را غوزوي
ورتیږي او خپل نازولی ژوند ددغه اور
په لمبوکې په ډېره نا خواله توګه له لاسه ورکوي
په کار ده چې افغان دافغان په
ژوند انه ور حمیږي اوژوند یې له دغه راز

وريت شوي مرګ نه وژغوري . او دغه پير زوينه
هغه وخت كيداى شي چې دخبرو له لارې
افغانان دهغې را تپل شوې جګړې مخه
وحه نيسي چې افغان دافغان له لاسه په
كې وژل كيږي په كار ده چې دغووژلو
نه لاس واخلو او په هيواد كې سوله ټينګه كړو

## دسو لې مارغه

پرې چې ګلان دارما نجنو هيلو وغوړ يږي
په وچو شونډو يې موسكا خپره شي
ژوند له تور تمه ووځي
اود بارو ټو پسی
ارزوز ندی نه كا ندي
پرې چې ژوندون له مظلو متو به خلاص شي
چې ژړ يدلی بچيان
ونيسي خوا پورې كلك
په مينه يې و نازوي
ور سره لوبې وكړي
پرې چې شپيلی دټوپك ماتمه پر يوزي
مينه دزړونو واكمني ونيسي
په ژوندون حكم وكړي
چې نور له وينو وو ځي
دجنګ بټی سړه شي
دقهر جنو زړونو
دحرص دنيا ړنګه شي
پرې چې دسولې مارغه
دژوندو په ولي كښيني
ټوله نړی ګلان شي
وطن شي واړه سوله
دژوند هر اړخ سوله شي
او عند ليب د وطن
دخوشحا لی نغمو كې
داتر انه خپره كړي
چې ژوله ظلمه خلاص شو
انسا نيت خپلواك شو

كا بل
1368/11/1

# تا لا نګر

لکه یو ګل دما شو مانو د هوس ګوتو کې

شي پا نې پاڼې دچا پښو ته پریوزي

لکه وجود چې لاسونه ، سراو پښې یې

غوړ شي

لکه یو مست او بی پروا چې له خودی نه

خلاص شي

دبابا ګانو دعزت شملې تر پښو لاندې کړي

دګور بتا نو ځاله داسي تا نګرو

لوټ کړه

جلال آباد

1375/1/16

## دا اور نه چا بل کړي

دا اورو نه چا بل کړي
چې د هیلو محل سوزوي
وطن څه چې زړونه یې وریټ کړل
دارزو تنګي ګلونه
آرماني رازونه سوزي
ودان کور یې کنډوالې کړ
هستي ټوله پیدا لاړه
دا اور ونه چا بل کړي
ګلګڅو، نه یې ژبه تاوه کړ له
هغه ګل چې ما ساتلی ؤ په مینه
دالفت په خوړ و څا څکو
ماهر وخت خړو بولو
پا نه پاڼه مړاوې ښه
په زلمي قبر ور خپور شو
دااورو نه چا بل کړي
چې لمبې یې نه مړیږي
په زلمیو ګلا لیو
په مینو ارزوګا نو
په ارمان دارما نجنو

په غرور سره تاويږي
ټول وطن يې لو لپه کړه
دا اور ونه چا بل کړي
دقاتل غوړونه خلاص کړه
دالمبې اودا اورونه
به له زوره ځنی پر يوزي
دوحشت په سره بټۍ کې
خو ټيد لې دزړه وينې
دوطن دليلا خپور او جړ اوربل ته
دښايست د بڼ ګلان شي

کابل
1368/8/16

# سو له

سوله ، ملی يووالی د قوتونو کور دی

دهيواد پا لود قوت اود ځواکونو کور دی

په دغه کور کې دځواکونو پيو ستون جوړيږي

چې قو تونه سره يوشي نو ژوندون جوړ يږي

سولې، ورویٔ ته د زوندون دعضمتو نو کور دی

په روغه ، جوړه به ددغه کور بنسټ پخيږي

په سپيڅلتيا به قوې متې دوحدت ټينګيږي

ټول به په سولې شورا ټول دوحدتونو کور دی

په ملي سوله به ددغه کور نشان او چت کړو

دغه نښان دورورولی به تر اسمان او چت کړو

دشمله ورو دميړانې ، غير تونو کور دی

داورور ولي به ددې کور عظمت او شان لوړ وي

څوك يې چې لاره کې خنډ کيږي هغه ځان شر موي

((قتيله)) دادافغانانو همتو نو کور دی

کابل

1389/11/10

# زما ګران افغا نستانه

زما عشقه ، زما ژونده په جهان جنت نشانه
درنه ځار درنه قر بان شم زما ګران افغانستانه
دا یمل در یا خان کور یې
د خوشحال غور ځنګ میدا ن یې
غیرت تا باندې کړي فخر
ته دېره دمیار و ښان یې
هره تړه دې غیرت دی
هره مور ګه دې همت دی
ستا له هسکو غرو نو ځار شم
زما پت زما عزت یې
زه به ومرم په ما باندې
خوا وچت دې ستا نښان وي
تل ودان اوسې هیواده
څو چې دا جهان ودان وي
زما ذره ذره دوینې
خدا یړوړکه ستا له مینې
ته له موره په ما ګران یې
مار ودلي ستا پی سپینې
چې ستا ځوزلره بد ګورې
بوټ ړانده هغه چشمان شه
هر اغزی دې ما ته ګل دی
هر یو دښت دې ګلستان شه
زه بلبل ستا دهر ګل یم اې دمینې ګلستانه
درنه ځار درنه قربان شم زما ګران افغانستانه
تابه جوړ تابه ودان کړو
تا به سیال ددې جهان کړو
تابه دو مره پورته بو ځو
چې جهان در ته حیران کړو
لو تماران به درنه ورك شي
مفت خوران به درنه ورك شي
چې په غیر یې خر څولې
تجاران به درنه ورك شي
زهر جنه فضا درومي
هر طرف دژوند هوا ده
ورور ولي سوله شي ټینګه
هر قیمت کې دژوند سیاده
زما کور زما ما منه
ای زما ګرانه وطنه
ستا په هر طرف کې ګوره

ده کیږدۍ دژوندون پلنه
دجرگو مر کو کور یې
زما ژوند یې ،زما شور یې
تابه جوړ په نوې شان کړم
ته زما د مټو زور یې
تا به ښکلی او ښایسته کړم تا به لوړ کړم له جهانه
در نه ځار درنه قربان شم زما گران افغانستانه
ته زما د ژوند ارزویې
ته مې ځان باندې پیروزیې
ته په لوړ ته په او چت شې
ته مسکن د میړ نو یې
که پښتون تا جك ازبك دی
هزاره دې په ننگ کلك دی
که تر کمن نورستاني  دی
بلوڅ ستا په لار چټك دی
پشه یې دې نر سر باز دی
ستا دهسکو غرونو بازدی
ټولو ملا ټینگه تړ لې
جوړ وو ته دې دمساز دی
ستا دښمن بولي دښمن خپل
دوی به ورك کړي له وطن خپل
ستا لمن به پا که ساتي
پرې به نړدی میر څمن خپل
ټینگ وحدت اوورولي ده
دا خوړه عزیز گلوي ده
دوی هیڅوك بیلوی نه شي
بې خلله خپلولي ده
ستا له لو ټو بو ټو ځار شم د((قتیل))دژوندون شانه
در نه ځار در نه قربان شم زما گران افغا نستا نه

کا بل
1663/9/5

# پراته دي

دعز تونو گریوانو نه په اغزو پرا ته دي

ډېر ناز ولي صورتونه په اغزو پراته دي

چې له غروره یې غو ښتنو ته ځواب نه وا یه

هغه نازو نه کړي سوالونه په اغزو پراته دي

چې یې د پټ لمنه چا کله لید لې نه وه
هغه لمنې څادرونه په اغزو پراته دي

چې د کابل هره کو څه یې وه په سرا خستې
هغه مستۍ هغه خیزونه په اغزو پراته دي

دزاړه ښار واړه کورونه یې کو لبه کړل سره
آد را ګونو محلو نه په اغزو پرا ته دي

ټول دستکو نه ، دروازې یې په بازار خرڅې شوې
دغنیمت واړه مالو نه په اغزو پرا ته دي

دنوي ښار ښکلاوې لاړې خدازده څه پرې وشول
خود لو نګو امیلو نه په اغزو پرا ته دي

پل خشتي جامع جومات یې په تو پو وویشته
دخداې سپیڅلي کتا بونه په اغزوپر اته دي

له چهل ستون ځنې نیولي ما هیپره پورې
ګزك، پغمان تر منځ کورونه په اغزو پراته دي

هغه کابل چې یې ښکلا ته وولیو اله زړونه
په کې ډاریږي هغه زړونه په اغزو پراته دي

تکیه خانو او پو هنتون ده وازه خوله نیولې
تمام ښوونځي او مکتبونه په اغزو پراته دي

یو سردوه غوړه هر سړی له کوره وتښتیده
کړي وحشت پرې یر غلو نه په اغزو پراته دي

غیرت یې دو مره ویرولی چې په اړخ نه اوړي
خو حیا ګاني لوڅ سرونه په اغزو پراته دي

چې ګلکڅو نه دننګرهار ور باندې ښه ښکاریدل
هغه نازك ښایسته ګلو نه په اغزو پراته دي

وطنه وښوریږه لاړې اباسین ته کوز شوې
ستا له غیرته ډك میړونه په اغزو پراته دي

آبریتورځوانان دې څه شول څه بلا وخوړل
چې لو پټې او عصمتونه په اغزو پراته دي

دابدالی اوبت شکن محمود بچیان دې څه کړل

اوس دې هماغه عظمتونه په اغزو پراته دي

چې مو تاریخ پرې نازیده افتخاراتو باندې

اوس دېلر و هغه هډونه په اغزو پراته دي

ستا ار ځښتو نه لیلا میرۍ په پردي وطن کې

ستا دو یاړونو تاریخونه په اغزو پراته دي

ستا بدې ورځې بد حالت لره کتلی نه شي

خود ((قتیل)) خوارږه شعرونه په اغزو پراته دي

## د بېو زلو نیکمر غي

دا په مونږ ه را تپلې چا جګړه ده

چې افغان په کې له لاسه دافغان مري

دا چې وچ په کې باغونه دژوندون شول

او په کې مو دژوندون خد متګاران مري

داجګړه ده که بلا په ژوند ناز له

چې په کې مو دوطن ټول مزدوران مري

څه سو غات دی درنا ددښمنانو

جو ما تونه سوزوي او عا لمان مري

دازمونږ د ژوندانه حساب کتاب دی

هر افغان د خپل افغان دسر قصاب دی

دا چې مونږ په کې مړه کیږو وژل کیږو

دما شوم دشیدو جام موچپه کیږي

چې تي خوري مري د میندو په سینو کې

تا ندې خولې يې چې په تي پورې وچیږي

دلته څه جرم دې خلکو زمونږ کړی

چې په مرګ موددښمن زړه نه یخیږي

دغه څه عظیم جرمونه مونږ ه کړي

چې هر چا ځنې قصاب را ته جوړ یږي

دخوارا نو جوړ کړی خپل جهان دی

بس په دې جرم غوسه راته خاقان دی

دغریب بزګرد زوی په وچو شو نډو

افغانا نو را خپره خوږه موسکا کړه

د ظالم لاس د مظلوم له ګریوان لنډ شو

را نسکوره مو تخته د ناروا کړه

کړل ټو ټی یې خنځرو نه دظلمونو

تیاره خونه دبې‌وزلو یې رنا کړه

دښمن غواړي چې خوښي را ځنې واخلي

دخوارا نو نیکمرغي راځنې وا خلي

دا خپلواك وطن مو وپلوري په نورو

له نقشې ورك تاریخي افغانستان کړي

دوطن د مور پړونی کړي یې پته

در بارو نوکې غلام زوی دافغان کړي

بیا د ځوان دمټو زور دځان خوراك کړي

ځان هو سا دغه د خیټې پهلوان کړي

دوطن اصیل بچیان مو غلامان کړي

رنګینه ددوی په وینو بیا خپل خوان کړي

بس په دې نیت هر دښمن تړلی ملا ده

دنیکمرغه ژوندانه په سر بلا ده

دهیواد ننګیال بچیه وطن سا ته

دوطن دسرحدونو نګهبان شه

مخه وتړه دغلو داړه مارا نو

ځوان قوته ددښمن په سر تو پان شه

دهیواد بیبیا نې وسا ته پتمنې

ددښمن لاسو نه لنډ کړه پهلوان شه

پو لې وساته د هسکو غرو سر بازه

سوله سا ته د ((قتیل)) زړګي در مان شه

چې دسولې امنیت څو دښمنان وي

تباهی ته ملا تړلی یې ځوا نان وي

## ملي سوله

سوله وحدت مو دیو شوو قوتو نو کور دی

دهیواد پالو د قوت اود ځواکونو کور دی

په دغه کور کې دځواکونو پیو ستونجوړ یږي

چې قوتونه سره یو شي نو ژوندون جوړیږي

سولې وروری ته د ژوندون دعظمتو نو کور دی

په روغه جوړه به ددغه کور بنسټ جوړ یږي

په سپیڅلتیا به قوي متې دوحدت جوړیږ ي

دشمله ورود مېړانې غیر تونو کور دی

په ملي سوله به ددغه کور نشان او چت کړو

دغه نشان دورورولی به ترآسمان او چت کړو

دشمله ورو دمېړانې غیر تونو کور دی

مصالحه به ددې کور عظمت او شان لوړ وي

څوك یې چې لاره کې خنډ کیږي هغه ځان شر موي

((قتیله)) دادافغانانو همتو نو کور دی

## دزړه چیغه

سرې جنازې دي پورته کیږي نن زما کلي کې
خیالي ځوانی دي خزانیږي نن زما کلي کي
کلي خو نه دی کنډواله کې یې ګلان رژیږي
دي ارزو ګانې چې قتلیږي نن زما کلي کې
زما دکلي دیوالونه په سروروینو لا مبې
وحشت په ژوند باندې لو بیږي نن زما کلي کې
داڅنګه کلی دی چې ژوند په کې بقا نه لري
لکه پسه چې حلالیږي نن زما کلي کې
دغه وحشت له کوم ځنګله نه راوتلی دلته
چې په مرګونونه مړ یږي نن زما کلي کې
دڅه بلا سیوري پر یوتي په دې خوار کلي دي

تور کندړونه دې جوړیږي نن زما کلي کې
هغه کورزنه چې ښکلا ورته حسرت کو لو
اوس تور کار غان دي چې ګرځیږي نن زما کلي کې
چې یې ځوانیو ته حیران ؤو دنښتر قدو نه
په توتو دوه تو له خر څیږي نن زما کلي کې
له ښکلا ډ کې آرماني ځوانی مو سپو وخوړې
دچا زړګی پرې نه رحمیږي نن زما کلي کې
زماد کلي ارزځښتو نه ټول پر دو و خوړل
یوه پیسه باندې بدلیږي نن زما کلي کې
دپلار نیکه په تار یخونو مو ملنډې کیږي
ټول کاسه لیځي دي چلیږي نن زما کلي کې
ای د تما مو موجوداتو د قدرت خا لقه!
څو به وحشت دو مره غور یږي نن زما کلي کې
دخپل ((قتیل)) سوي سوالو نه خویو ځل قبول کړه
دا هم ژوندون دی چې تیر یږي نن زما کلي کې

## سوله داسې خوږ نعمت دی

دارزو په وچو شو نډ و دموسکا رڼا خپره شي
دظلمت پردې شي څیرې درڼا رڼا خپره شي
دبلبل د ناوې کور کي دخندا رڼا خپره شي
جل وهلي ستوني لوند شي کې (1)
دسا رڼا رڼا خپره شي
مرور زړونه پخلا شي دالفت دنیا شي جوړه
ټول ژوندون شي مینه مینه اخوت دنیا شي جوړه
سوله داسې خوږ نعمت دی
سوله داسې خوږ نعمت دی
سوله مینه ، ورور ولي ده، سوله ژوند دکرامت دی
سوله تاج دسر یتوب دی سو له خیر دی شرافت دی
دتو حید ښکلي نغمه ده خوږ نسیم مود جنت دی
ددښمن داجل توره دپتمن ژوندون عزت دی
دپر یو تي ژوند امسا شي د همت دنیا شي جوړه
ټول ژوندون شي مینه مینه اخوت دنیا شي جوړه
سوله داسې خوږ نعمت دی
سوله داسې خوږ نعمت دی
جنګ دې ورك شی له دنیا نه دانسان ژوندون تباه کړي
دالفت د کور په غولي لمبې بلې دوبا کړي
چې هر څه په مخه ورشي تر ينه ژبه کړي را تاوه
له سمسوروطن نه جوړه خداېږ ودښته اوبید یا کړي
سوله ژوند در مزاو رازدی محبت دنیا شي جوړه
ټول ژوندون شي مینه مینه اخوت دنیا شي جوړه

سوله داسې خوږ نعمت دی
سوله داسې خوږ نعمت دی
کروندې شي په کې تا ندې دمسیح دم په کې خپور شي
تبعیضو نه په کې ورك شي ژوندون یو تر بله ورور شي
دوحشي ژوې کینره شي زړه د مینې الفت کور شي
دې تپې تپې وطن کې د ((قتیل)) دزړه ټکو رشي
فضیلت په کې ژوندی شي اودپت دنیا شي جوړه
ټول ژوندون شي مینه مینه اخوت دنیا شي جوړه
سوله داسې خوږ نعمت دی
سوله داسې خوږ نعمت دی

## دوخت نا ځواني

زما نې ګټو په ویشتې دې ښاغلي

کس نا کس ته یې در ګاه کې درولي

هغه ورک شو چې غیرت پرې ویاړ کو لو

تا له نورو اور یدلي ما لید لي

زما نې په میړ نیو شندې وکړې

همتو نه بې همتو دې رټلي

چې عصمت یې دټېکر یو تل سا تلو

بر یتور مو تورو خاورودې خوړلي

وخته بیا دې نا ځواني را سره وکړه

چې مردان دې په نا مردودې وژلي

ډیر افسوس دی په پیرزو باندې کومه

دغیرت ابی شوه کونده نا منلې

ډیرد رانده په سپکه تله تلل کیږي

ډېرو ډیر دې په همدې تله تللي

دګیلې ځای مې ورك کړیدی ((قتیله))

وخت مېړونه په نا دودو ځو رولي

کابل

1374/12/24

# کاڼي

دژوندانه په سیمه اوري دآسمان کا ڼي
تباه کوو نکي ، ځوروو نکي د شیطان کاڼي
د محبت دکلي ساه ده زیندی شوی دلته
له هرې خوانه راور یږي په افغان کاڼي
دانسان ځاله خرا بیږي دژوندون په ګناه
لکه سکر وتې را پر بوځي په انسان کاڼي
دا مونږه خوارو څه ګناه ده دې وطن کې کړې
لکه ږلی زمونږ په لوري را روان کاڼي
داور لمبو ته یې نیولي دانسان زړونه دي
وحشت غو سه دی وروي لکه باران کاڼي
((قتیله)) خدای دې په غریب ژوندانه ور حمیږي
د بچیدو نه دي له سره د حیوان کاڼي

# دسولې فضا

دسړ یتوب د کرامت خوندي کیدو له پاره
سپینې کوترې خپرې کړې دي وزرې خپلې
چې ځور ید لی ژوندون
دجنګ جګړ و تورو لو خړو
سرو اورونو کې وریت
لمبو وهلی ژوندون
یو څه هو ساشي په کې
خلاص له ظلمونو نا روا شي په کې
د باز منګو لې شي بی متره
او له سېکه پر یو زي

دهو سا یی او سو کالی ددښمن
زور، استبداد او به شي
له یوې ځالې نه الوتي بچي
دادیو بل وینو ته چا تږي کړل
ګیر دښکاري پنجو کې
دبې وزلی دنیا کې
بې وسه ساه ورکوي
دغه د چا دخوشحالی له پاره
دچا دزوی دسات تیری له پاره
دخپلې خور غیږه کې
له موسکا ډکه خولګۍ
ماسوم په اورکې سوزي
دا مهر بانه زړګی
دظلم کور ولی شو
دغه د چا لمسون دی
چې ورور په ورور قتلو ي
دمهر بانه مور زوی
دخپل روکي دژوند دښمن ولې شو
سپنې کوترې راشه
خپاره کړه خپل وزرو نه
چې دلته سوله را شي
اوژوند ار ځښت پیدا کړي
د سو وساند و تږغر تږول شي ورنه
خولې له خندا ډکې شي
دسولې خښته کاندي
دژوند مانۍ او چته
دیرې حجرې مود پلرو
بیا له خندا ډکې شي

ددښمنی په ځای شي مینه ژوندون

دغه دیدن ته تږي

غاړه غړۍ شي سره

دپیو ستون له پاره ملي تړون ته کښیني

او

ژوند له غمه خلاص شي

# ملي وحدت

ملي وحدت مو دیو والی قو تو نو کور دی

دهیواد پا لو میړ نیو دځواکونو کور دی

په دغه کورکې د ځواکو نو پیوستون جوړ یږي

چې قو تو نه سره یوشي نو ژوندون جوړیږي

سولې وروری ته دژوندون د عظمتو نو کور دی

دسولې تیره به ددغه کور بنسټ پخوي

په سیځلتیا به قوي مټې دوحدت ټینګوي

دخدای په لاره ټولیدل دوحد تونو کور دی

په ملي سوله به ددغه کور نشان او چت کړو

دغه نشان دورورولئ به تر آسمان او چت کړو

دشمله ورود میړانې غیر تونو کور دی

په ورورولئ به ددې کور عظمت او شان جوړیږي

ځو ك یې چې لاره کې خنډ کیږي  هغه خود شر میږي

((قتیله )) دادافغا نانو همتو نو کور دی

# دسولې پسر لي

گلو نه راوريږي ټول جهان مې پسرلى دى
غزل مې پسرلى دى اوداستان مې پسر لى دى
زنگو نه دي ، خوندونه دي ، كيفو نه اداگانې
زما ن مې پسرلى دى او مكان مې پسر لى دى
تن شوى د مشكنو بارانو نه په وطن كې
زلمى مې پسرلى دى زوړاو ځوان مې پسر لى دى
دښتو نو او بامو كې دغا ټو لو گلان خاندي
مزار يو ازې نه دى شبر غان مې پسر لى دى
سرې وينې دشهيد دي گلكڅو نه پرې رنگين دي
هر دښمن مې پسرلى دى حيران مې پسرلى دى
قربان دې له سلگو شم دوطن پهلوان زويه
هر بوټى پسرلى دى بيابان مې پسر لى دى
سرو وينو دشهيد دښتي رغونه لمبو لې
غا ټول مې پسرلى دى ارغوان مې پسرلى دى
خمو نه دعطار دي چپه شوي په وطن كې
افغان مې پسرلى افغانستان مې پسر لى دى
دگل ،مر سل په ځنگ كې د نارنج گلو نه خاوندي
مرسل مې پسر لى دى گلستان مې پسرلى دى
په سر باندې اخستى نن گلو نو ننگرهار دى
دوران مې پسر لى دې او جانان مې پسر لى دى
((قتيله )) شهيد انو ته دسولې زېرى وركه
دټول هيواد په سيمو را روان مې پسرلى دى

كابل

1378/1/23

## زمو نږه پسر لی

جنګو نو ځورولی دی زمونږه پسر لی

لو خړو سوزولی دی زمونږ ه پسر لی

ګلونو کې دوینو رنګ له ورایه معلو میږي

سرو وینو لمبو لی دی زمونږه پسر لی

دا پر ښه نه ده داچې په ګلو نو را وریږي

ظلمو نو ژړولی دی زمونږ ه پسر لی

چا ودنو ، مرد کیو کرل شو یو سرو ماینو نو

په بل رنګ اړولی دی زمونږ ه پسر لی

دښتو نو کې ګلونه شینلیو ته ژړیږي

غمونو کړولی دی زمونږ ه پسر لی

په تمه دپتۍ دي د کابل زخمی ګلو نه

بمو نو ربړولی دی زمونږ ه پسر لی

وطن مو دسپر لی په هیله ډیر ګلو نه تیر کړل

داچا په بند نیو لی دی زمونږ ه پسر لی

خاونده دا ویجاړ وطن مو خلاص کړې له جنګو نو

((قتیله )) زیړ زبیښلی دی زمونږ ه پسر لی

## زما وطن

چې ګل رنګه ګل ورین دی خدایږ ودازما وطن دی
چې له شا تو نه شیر ین دی خدا یږ ودازما وطن دی
چې ښکلا ته یې پسخیږي دجنت د حورو حسن
چې صفا سپېڅلی سپین دی خدایږ و دازما وطن دی
هرې مورګې ، هرې دښتې نه یې نظر خوندونه اخلي
چې دسر ښایست جبین دی خدایږو دا زما وطن دی
دچینو سپینې او به یې چې له شاتو نه خوږې دي
دښکلا پرې آفرین دی خدایږو دازما وطن دی
خوږ ه غیره یې آرام دی ځوریدلي زړه له پاره
دروغ مه ګڼه چنین دی خدایږو دازما وطن دی
تولـه مینه محبت دی دهره پیڅکه یې الفت دی
دپتمنو سرزمین دی خدایږ و دازما وطن دی

ننګرهار یې تل بهار دی دبلبلو پرې چغار دی
پسر لی یې ټول رنګین دی خدایږو دا زما وطن دی
دنسیم دذروزږه کې یې وږمې دتاریخ نا څې
معطر او عنبرین دی خدایږو دازما وطن دی
بیا له ګوتې نه نیولی نارنج ګل مرسل شبو ده
را روان په ډېر تمکین دی خدایږ و دازما وطن دی
هم مې ځان هم مې جهان دی هم غزل هم مې داستان دی
هم مې صدق هم یقین دی خدایږ و دا زما وطن دی
دخپلو اکو ګو ربتا نو دپرواز خلا صه فضا ده
چې دښمن ته تا ترین دی خدایږ و دازما وطن دی
چې غیرت ور باندې نازي او همت ور باندې ویاړي
دغلیم زړه په کې خوږین دی خدایږ و دازما وطن دی
د((قتیل)) خواږه شعرونه د همده فضا کې مست دي
دنړۍ د تاج نګین دی خدایږ و دا زما وطن دی

# سو له

سو له د ژوند ون د پا ینښت ساه ده پدوطن کې

سوله دافغان ژوندون بقا ده په وطن کې

سوله سمسور تیاده وطن ژغوري تباهۍ نه

سو له ازادي ده ار تقا ده په وطن کې

سوله وچوی دبورو میند وسوې اوښکې

سوله وروړلي ګوره رښتیا ده پد وطن کې

سوله کې په مینه غیرږې خلا صې هر کلې ته

سوله سر سایه دهر یو چا ده په وطن کې

سوله کې پراته دژوندانه ټول نعمتو نه دي

سوله ترانه زما او ستا ده په وطن کې

سوله په قرآن کې خیر بللی الهي دی

سوله کې خوندي پت او حیا ده پدوطن کې

سوله دوحشت ضد عطیه درب منان ده

سوله دظلمت په سر بلا ده په وطن کې

سوله کې ژوندون هرې بلا نه په امان وي

سوله وچو شوندو ته مو سکا ده په وطن کې

سوله کې ((قتیله)) دژوندون ټول عزتونه دي

سوله دحرمت په لور رڼا ده په وطن کې

واصل آباد

1371/1/21

د عبدالروف قتیل خوږیانی
لنډ ژوند لیک

نوم يې عبدالروف، تخلص يې قتيل او په قام خوږياڼی دی او له همدې کبله له خپل تخلص سره خوږيانی يو ځای ليکي. پلار يې محترم محمد سرور دی او په ۱۳۰۸ ل کال د خوږیانیو په کړه کې زيږيدلی دی. لومړنی زده کړې يې د کړې په لومړني ښوونځي او ثانوي او لوړې زده کړې يې د پغمان د شرعياتو ابو حنيفه مدرسه او د شرعياتو په پوهنځي کې ترسره کړې دي.

دی په مدرسه کې زده کوونکی و، چې له شعر او شاعرۍ سره يې نه يوازې مينه وه، بلکې مدرسې په کنفرانسونو او سټيج ډراموکې به يې هم ګډون کاوه. ان ، چې په يوه کنفرانس کې يې د سيدالمرسلين د هجرت پېښې يوه منظومه کې ليکلې او په يوه کنفرانس کې يې د کنفرانس د تنظيمووونکي ښاغلي جمال عمار مصري ښوونکي له خوا لومړۍ درجه جايزه و ګټله او د عظيم الشان قرآن تفسير د جايزې په توګه ورکړ شو، چې بيا يې هماغه شعر د محترم محمد هاشم مجددي له خوا عرفان مجلې ته ورکړ شو. له چاپ وروسته د ((شا يق افندي )) صاحب له خوا ، د مجلې مدير و، د وخت لوړه جايزه ۳۵۰ افغانی ور کړ شوه. دغه جايزه د هغه وحت د ټيټ رتبه مامور له مياشتنی تنخوا سره برابره وه.

دغه راز قتيل خوږياني د اميه بن خلف په ډرامه کې ، چې مصري ستر ليکوال او په پغمان کې د شرعيه علومود مدرسې استاذجمال عمارليکلې او تمثيل کړې وه، خپل رول په غوره توګه لوبولی ، چې له هماغه وخته يې د ډرامو او افسانو له ليکلو سره مينه پيداشوې او تر اوسه يې شل افساني او لس ډرامې ليکلې دي. يوولس افساني يې د ارمان په ټولګه کې چاپ شوې او ډرامې يې خورې ورې په کابل مجله، اصلاح او انيس ورځپاڼو کې چاپ او خپرې شوې دي.

قتيل خوږيانی په هنري او فوکلوري ادبياتو کې لوی لاس لري او په ډرامو کې يې انتباهي او انتقادي پله ډېره درنده ده.

ده دکړې د لوی ولسوال ارواښاد عبدالقادر((قاضی ))د ولسوالی پر مهال ((بدرګه)) نومی ډرام پر سټيج او دريغ ولوباوه، چې په خپله يې په کې د سود خور رول لوبولی دی. د دغه رول په سرته رسولو کې دومره جالب او بريالی و، چې په نندارچيانوکې يو سړی پرې تر دې بريده احساساتي شو، چې يو ناڅاپه يې ورته له خولې ښکنځلې ووتې .

قتيل خوږيانی هغه وخت، چې د ننګرهار د عالي ليسې تدريسي مرستيال او د پښتو ادبياتو استاذ و د جلال آباد د ښار والۍ په سينما کې يې ننګرهار ننداره د ارواښاد ګلشاه ساپي په مرسته جوړه کړه، چې دی د ننګرهار ننداري موسس هم دی او دلته به يې خپلې ډرامې تمثيلولې، چې ساير هراتي هم ورسره کار کاوه.

د ((جامعي مکروب)) ډرامه يې، چې په ((ننګرهارننداره)) کې له ښاغلي ساير هراتي سره يو ځای ننداري ته وړاندې کړه؛ د وخت والي په ۱۳۳۹ ل کال بندي کړ، چې د والي په تبد يلېدو او د تنظيمه رييس په توګه د مرستيال خان محمد خان په مقررېدوپه لومړۍ شپېه په ۱۳۴۰ ل کال کې له بنده خوشي شو.

دی مجبور شو چې ځان د ابن سینا لیسې ته تبدیل کړي. د خپل ماموریت لومړي لس کاله یې په معارف کې د ښوونکي، سرښوونکي او مفتش په توگه کار کړی او په ۱۳۴۲ ل کال د پښتو ټولنې ټولنې د زیرې د اوونیزې د مدیر او بیا د پوهنې وزارت د تالیف او ترجمې ریاست، د پوهنې د مجلې مدیر او چلوونکی ټاکل شوی دی.
په ۱۳۴۳ ل کال د اطلاعاتو او کلتور وزارت په وړاندیز هغه وزارت ته تبدیل او د هېواد ورځپاڼې د تدقیق او څېړنې د مدیر په توگه یې په کار پیل وکړ، د ۱۳۴۷ ل کال د سنبلې په میاشت کې د ننگرهار ولایت د اطلاعاتو او کولتور د لوی مدیر او د ننگرهار ورځپاڼې د مسوول چلوونکي په حیث مقرر شو.

په۱۳۵۰ ل کال کابل ته تبدیل او د اصلاح ورځپاڼې د پښتو څانگې د مدیر په حیث وټاکل شو.

د ۱۳۵۱ ل کال په وروستیو میاشتو کې د دوه یم ځل له پاره د ننگرهار د اطلاعاتو او کولتور د لوی مدیر او د ننگرهار ورځپاڼې د مسوول چلوونکي په توگه مقرر شو.

په ۱۳۵۳ ل کال د فراه ولایت د اطلاعاتو او کولتور د مدیر او د سیستان جریدې مسوول چلوونکی شو او د ۱۳۵٤ ل کال د عقرب په میاشت کې د کندز د اطلاعاتو او کولتور د مدیر او د کندز جریدې د مسوول چلوونکي په توگه وټاکل شو، چې دا دنده یې تر ۱۳۵٦ل کال پورې تر سره کړه.

په همدغه کال د جمهوریت د اخبارد پښتو د تدقیق مدیراو وروسته د هیواد ورځپاڼې مرستیال او د ۱۳۵۹ل کال د سنبلې په میاشت کې د انیس ورځپاڼې د مسوول مرستیال په توگه وټاکل شو. بیا د هېواد ورځپاڼې د ادب او فرهنگ د څانگې مسوول شو. په هیواد کې یې مافوق رتبې ته ترفیع وکړه او بیا په (۱۳۷۹ ل) کال کې تقاعد ورکړ شو.

لومړی شعر یې هغه وخت ویلی، چې د علامه سید جمال الدین افغان کالبود له ترکیې نه کابل ته راوړل شو. د ده په خپل اواز له کابل راډیو څخه خپور شو او لومړنی شعر یې د ننگرهار په ورځپاڼه کې په ۱۳۲۸ ل کال کې چاپ شوی، چې مطلع یې دا وه:

د وطن خدمت کومه ځومې ساه وي په بدن کې

ورنه سر قربــانومه ځومې ساه وي پــه بدن کې

**د ده کتابي اثار**

**الف : چاپ شوي اثار:**

۱ -دوه یاران ناول په ۱۳۳٦ ل کال د اتحاد مشرقي د ادارې له خوا چاپ شویدی.

۲ -ارمان د لنډو کیسو ټولگه ده، چې د اطلاعاتو او کولتور د وزارت له خوا یې د ۱۳٤۳ ل کال د کاندید شویو ادبي اثارو په جمله کې د رحمان بابا دوه یمه درجه جایزه گټلې او د خپرونو د لوی ریاست له خوا په کتابي بڼه په همدې کال خپور شویدی. او بیا په دوه یم ځل په ۱۳۸٤ ل کال په پېښور کې چاپ او خپورشو.

۳ -ټنگ ټکورد تغزلي شعرونو ټولگه ده، چې د ننگرهار د اطلاعاتو او کولتور د لوی مدیریت د ننگرهار ورځپاڼې له خوا خپره شوې ده.

٤ -انقلابي نغمې د شعرونو ټولگه ده ، چې په ۱۳۵۹ ل کال کې د لیکوالو او شاعرانو د اتحاد یې له خوا چاپ شوې ده.

۵ -دا حسن دا لمبې شعري ټولگه په ۱۳۷۰ ل کال د اطلاعاتو او کلتور وزارت د کتاب چاپولو د موسسې له خوا چاپ شوې ده.

٦ -ارماني رازونه، شعري ټولګه ده، چې په ۱۳۷٤ ل کال د ليکوال په خپل لګښت په پېښور کې چاپ شوې ده.

۷ -ادبي ليکونه د نثري ادبي ليکونو ټولګه ده، چې په ۱۳۸۲ ل کال په پېښور کې د ختيځ بيا رغونې اداري (کور) له خوا چاپ اوخپره شوې ده.

۸ -ګلان د ښاغلي نوابي د کتاب ژباړه ده، چې داريك کتابتون له خوا خپره شوې ده.

9- (دسولې پيغامونه همدغه شعري ټولګه ده ، چې په 1391 کال دسرحد نو، قومونو او قبايلو وزارت د اطلاعات اوعامه اړيکو رياست له خوا 1391 خپره شويده ) .

10- ( د غزلونو کليات په ۱۳۹۰ ل کال ميهن خپرندويې ټولنې چاپ کړ).

۱۱-باچا خان ته د عقيدت ګلونه په ۱۳۹۰ل کال اطلاعاتو او فرهنګ وزارت چاپ و خپور کړی دی.

۱۲- (لوڅه ځنګل ناول دی، چې په ۱۳۹۰ل ميهن خپرندويې ټولنې چاپ کړې).

**ناچاپ اثار:**

1– پښتو لغوي پانګه: د زيري په جريده او ننګرهار مجله کې پرله پسې خپره شوې ده.

2– ادبي موضوعګانې په زيري، ننګرهار او کندهار مجله کې پرله پسې د ۱۳۳٦ ل کال څخه را په ديخوا د مقالو په بڼه خپرې شوې دي.

3–سندريز پيغام: شعري ټولګه.

4– دمحبت پيغام: شعري ټولګه په دوه ټوکونو کې.

-5 د وحشتونو ننداره: شعري ټولګه.

6– خاطره: شعري ټولګه.

7–ملي دردونه: حماسي او وطني شعرونه

8– د جونګړې ملنګ: د ډرامو ټولګه

10– ننګ او ناموس په پښتو ادب کې .
11– الو څه ځنګل : ناولی د ميهن خپرندو يې ټولنی له خوا په 1390 کال خپر شوی.

12 -څلی او نرخونه په پښتو ادب کې : د پکتيا په مجله کې پرله پسې چاپ شويدي او په سوونواو زرګونو مقالې او سرمقالې، چې په ورځپاڼو، جريدو او مجلو کې خپرې شوې دي.

13ـ دپښتو له خوا پا نګه په ننګرهار مجله کې پرله چاپ شویده .

که څه هم د ده د شعرونو زیاته برخه تغزلی ده، خو انتقادي او انتباهی شعرونه یې هم د یادونې وړ دي.
چې د یو څو شعرونو مطلع یې دا ده:

که دي رشوت خوړلی نه و پړسېدې به ولې
د بل په وینو خمنډ که ټنډېدې به ولې

**یا:**

خلکو دنیا وخوړه مونږه دنیا وخوړو
ځان نه خبر نه یو هیڅ چې څه او چا وخوړو

**یا:**

دنیا چې د چا نه وي دنیا څه ورته په کار ده
دنیـــــــــــــــــــــا د دنیا دار ده

د قتیل خوږیاني د ټولو ډرامو ټول کرکترونه پښتني دي او له پښتني چاپېریال نه یې الهام اخیستی دی، په دغو ډرامو کې د ژوند بېلا بېل اړخونه تمثیل شوي او ناخوالې یې په کلکه غندل شویدي. هغو بدو دودونو ته، چې په پښتني کولتور کې د تربور او تربګنی په نامه موجود دي ګوتنیو نه شوې او رټل شویدي.

( د جامعې میکروب، اول زده کړه بیا کوژده کړه، بدرګه، غوټې، د جونګړې ملنګ، میراث، ظالم کاکا، ګوره چې څه کیږي، سره میاشت) هغه ډرامې دي، چې په ننګرهار ننداری کې تمثیل شوي او په تمثیل کې یې ده په خپله عملي برخه اخستې ده. معنا دا، چې دی د هنري ادب د تخلیق ترڅنګ دتحقیق په برخه کې هنري فنکار هم دی په ډرامو کې یې خپل نقش په پوره بریالیتوب ترسره کړیدی. ده د خپلو ډرامو ډایریکټري په خپله کړیده او ډرامې یې ننداری ته وړاندې کړیدي.

**د ده د ادبي لیکنو او شعرونو څو نمونې دا دي:**

**نثری بېلګې:**

# کوچۍ

ټوله شپه واورې وریدلې وې، د ښاروانو په واورو پټ ول، نری سیلی چلیدله، د ارتل دپله ترڅنګ یوه چټه پېغله کوچۍ، چې د خپل اوښ مهارېې په لاس کې نیولی و ولاړه وه او د خپلو کډو انتظار یې کاوه. د اوښ په خوله کې له ډیرې مستۍ څخه سپین ځګونه، نه ځائیدل او د خولې له دواړو کونجونو یې د واورو د څپرکو په څیرراتوئیدل؛ خو، چې ځمکې ته به ورسیدل بیا به یې د کنګل د پاسه د کنګل شکل غوره کړی و.
د کوچۍ سپینو اننګیو له ډېرې یخنۍ د کابل له سرو منو سره سیالی کوله او پښې یې د ګازرو په څېر له یخنۍ سرې اوښتې وې؛ ځکه، چې د کوچۍ په پښو څپلۍ وې او د دغې ښکلې او نازنینې پېغلې تنکی پښې په ټول عمرکې له جرابو سره اشنا شوې نه وې. په خپل نري پړوني کې د پاڼې په شان ریږدیدله، خو دا ولاړه وه او د خپلې کورنۍ د راتلو لاره یې څارله.
په سپین تندي یې درې، څلور سپینې روپۍ راځړیدلې، چې سرو اهونو یې په تندي پورې نښلولې وې.
په دې کې د بنز موټر سره د طلایي وینتانو میرمن ډریوره، چې شاته یې په دوه یم سیټ کې لوی غوږی سپی ولاړ و او سر یې له موټر څخه راکښلی و راورسیدله. د سپي له غپ سره سم اوښ په ترپکو شروع وکړه، د کوچۍ لاسونه خو هسې هم د یخ له لاسه بې مترې ول او د مست اوښ د مهار د ټینګولو توان یې نه درلود. اوښ خوشې شو، کوچۍ پسې

ورمنډې کړې او په منډو منډو کې یې پښه وښوئیدله، دواړه ځنګلې یې په وینو پټې شوې اروپایی پېغلې ورته ومسل او پخپل موټر یې پښه ټینګه کړه.